دعوت



دافغانستان مسلمان اولس خپل جهاد د
الحاد او دهریت پرضد پیل کړی ؤ او
څو چه د الحاد او دهریت حکومت ختم
شوی نه وی، خپل جهاد به جاری ساتی.

که مؤقت حکومت د خپلی وعدی سره
سم د قرآن او سنت نظام نافذ کړی،
مونږ په ئی حمایت وکړو.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي شَكٍّ مِنْ دِينِي فَلَا أَعْبُدُ الَّذِينَ
تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَٰكِنْ أَعْبُدُ اللَّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ ۖ وَأُمِرْتُ
أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٤﴾ وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا
وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٥﴾ وَلَا تَدْعُ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا
يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۖ فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿١٠٦﴾
وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِنْ يُرِدْكَ
بِخَيْرٍ فَلَا رَادَّ لِفَضْلِهِ ۚ يُصِيبُ بِهِ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ۚ
وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿١٠٧﴾

ترجمه:

ای پیغمبره ! ووایه چه ای خلکو ، که تاسی تر اوسه پوری زما د دین په باب په څه شك کښی یاست ، نوواورئ چه تاسی چه له الله نه پرته د کومو بندگی کوئ ، زه د هغو بندگی نه کوم ، بلکه یوازی دهغه خدای بندگی کوم چه ستاسی مرگ دهغه په واك کښی دی . ماته حکم شویدی چه زه له ایمان را وړونکو څخه اوسم . او ماته ویل شوی دی چه ته یوی خواته اوسه خپل ځان سم سیخ پردغه دین قایم کړه او هیڅکله له مشرکانو څخه مه کیږه . او له الله نه پرته کومه داسی هستی مه بله چه نه درتهٔ گټه رسولی شی نه زیان ؛ که ته داسی وکړی تولهٔ ظالمانو نه به ئی ـ که الله تاپه کوم مصیبت کښی واچوی ، نوپه خپله له هغه پرته بل څوك نشته چه دا مصیبت ایسته کړی او که هغه ستا په باب د کومی ښیگڼی اراده وکړی ، نو دهغه د فضل مخ اړوونکی هم څوك نشته ؛ دهغه چه له خپلو بندگانو نه چاته خوښه شی خپل فضل وربانډی پیروز کوی او هغه ښښونکی او رحم کوونکی دی .

ادْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ

دعوت

د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة د افكارو خپرونکی

PROPERTY OF ACKU
S 524

شپږمه گڼه ـ لومړی کال ـ د ۱۴۰۹ هـ ق کال د ذوالقعدی او ذوالحجی میاشتی

هغه څه چه پدی گڼه کښی لولی

شماره	مضمون	مخ
۱ـ	قرآنی دعوت او هدایت	۳
۲ـ	رسیدن به عرش	٦
۳ـ	د شیخ جمیل الرحمن مرکه	۸
٤ـ	حقانیت مسلك اهلحدیث	۱۳
٥ـ	د اقتدار کرسی	۲٤
٦ـ	آرامش دلها	۲٦
۷ـ	د غازی کور	۲۹
۸ـ	د نیشنلیزم اسلامی تعبیر	۳۱
۹ـ	د الماسو امیل	۳٤
۱۰ـ	حضرت علی کرم الله وجهه	٤۱
۱۱ـ	د جهاد د تودو سنگرو نو خبرونه	٤٥
۱۳ـ		

مؤسس :
مولوی جمیل الرحمن

د امتیاز خاوند :
جماعة الدعوة الی القرآن والسنة

خپرونکی اداره :
ددعوت او ارشاد کمیټه ـ فرهنگی لوی مدیریت

مهتمم :
مولوی غلام الله (رحمتی)

پوست بکس
۱۲۰۲
پیښور ـ پاکستان

•••••••

د حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه له وینا وڅخه

«خلك وائی چه زه د خپل خاندان سره مینه کوم او دهغوی سره زما روش فیاضانه دی. خو حقیقت دا دی چه زما محبت، ماظلم او بی عدالتی ته نشی مایل کولی.

بلکه زه یوازی د هغوی واجبی حقوق ادا کوم، همدا شان زما فیاضی هم زما په شخصی مال پوری محدود ده. زه د مسلمانانو مال نه ځانته حلال گنم او نه ئی نورو ته. ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر او عمر په زمانه کی هم خلکو ته د خپل مال څخه قیمتی عطیی او سوغاتونه ورکول. او اوس چه زه د خپل ژوند وروستی پانگی ته رسیدلی یم او ژوندمی په ختمیدو دی او خپل ټول مال او سرمایه په خپلو خپلوانو ویشم، مفسدین او اشرار په ما پوری بی ځایه تورونه تړی. په الله می دی قسم وی چه ما په هیڅ ښار باندی د خراج داسی کوم پیټی نه دی ایښودی چه د دی ډول تورونو لپاره جواز پیداشی. او څه چه وصول شوی دی، ټول د خلکو د رفاه او سوکالی په لاره کی لگیدلی دی. ماله یوازی خمس راځی او له هغه نه هم څه اخستل ماته جایز نه دی، مسلمانانو زما له مشوری نه غیر په مستحقینو باندی ویشلی دی. په بیت المال کی می دیوی پیسی تصرف هم نه دی کړی اونه می تری څه اخستی دی او خپل معیشیت له خپلی شخصی سرمائی نه برابر وم.

بسم الله الرحمن الرحيم

قرآنی دعوت او هدایت

دهغه احترام او درناوی په اساس چه حضرت یوسف علیه السلام دزندان د ملگرو په منځ کښی پیدا کړی وو د زندان دوهٔ ؤ تنو ملگرو خپل مهیب او خطرناك خوبونه حضرت یوسف علیه السلام ته بیان کړل او په دی دلیل چه دی ئی داحسان کونکو کسانو څخه گانه د خوبونو تعبیرات ئی هم ور څخه وغوښتل. هغوی یوازی په دنیاوی ژوند باندی اعتقاد در لود او د خپلو مشکلاتو او آسایشونو، کامرانی او ناکامی، پریشانی او خوښی دارومدار ئی یوازی د دنیا په دی نیمگړی او فانی ژوند انه پوری تړلی وو.

خو یوسف علیه السلام چه د نبوة د غیږی پرورده ؤ او الله تعالی جل جلاله ور ته د بصیرت سرمایه اعطا کړی وه او مزاج او سرشت ئی دالله جل جلاله در سالت له پاره مساعد شوی وو ډیر ښه پوهیده چه دزندان دواړه ملگری چه له کوم حقیقت څخه ناخبره پاتی دی هغه د دوئی د خوبونو څخه ډیر زیات داهمیت وړ دی، دغه حقیقت په الله جل جلاله باندی ایمان لرل دی، په هغه پاك او اقدس ذات باندی ایمان چه د کائناتو خالق او مدبر دی او هغه حقیقت دی چه د شرك او همتاپرستئ آمیزش ورسره نه وی، خو که د دنیا

حقیقت هر څومره خوږ او د زیات عمر خاوند وی بیاهم د یو خوب نه زیات بل څه شی نه دی.

د ده د زندان ملګری باید د خپلو خطرناکو او مهیبو خوبونو د حقیقت په ځای د هغه اوږ د خوب په تعبیر پوهیدلی وی چه زیاته اړتیائی ورته درلوده او هیر ول او ورته غفلت کول د دوئ په تباهئ تمامیدله.

یوسف علیه السلام چه الله جل جلاله ورته په فطری ډول د همدردی جذبه او د خلکو د خیر خواهی احساس په زړه کښی ایښی وو تصمیم ئی دا شو چه د قید او آسارت ملګری له اصلی خطرنه اګاه کړی او داسی لارور وښائی چه د آبدی نیکمرغی او سعادت موجب ئی وګرځی په تیره بیا په داسی وخت کښی چه ذهن د داسی خبری او ریدلو او منلو ته آمادګی هم ولری د خبری د منلو امکانات ډیر زیات وی ځکه خو یوسف علیه السلام مناسبه وګڼله چه د غه فرصت له لاسه ورنه کړی او د خپلو ملګرو د ذهن په خاوره کښی یو عالی او بیش بها تخم وشیندی.

د خوب تعبیر د یو ښکلی محفل او د کلام یوه مناسبه او غوره سلسله را پرانستله چه باید د الله جل جلاله د دین په لوړ دعوت او بلنه پیل شی او د مخاطبینو سلیم فطرت را بیدار شی ترڅو د توحید د عقیدی په واضح او قابل فهم درس باندی پوه شی

د خبرو د پیل غوره طریقه:

په تیر بحث کی مو ولیدل او و مولوستل چه حضرت یوسف علیه السلام د خپلو زندانی ملګرو سره په خبرو کی د څه ډول غوره او احسنی طریقی څخه کار واخست ښه کار همدادی چه د یوی غوره او اهمی خبری له پاره د خبرو طریقه او پیرایه هم هماغه شان لوړه او عالی وی، د کلام په آدابو کښی د غه کار زیات د اهمیت وړدی، ځکه که د خبرو طریقه ښه نه وی نو د مطلب په حسن خاوری بادیږی.

حضرت یوسف علیه السلام په داسی شان خپلی خبری پیل کړی چه له هر څه نه وړاندی ئی مخاطبین په دی مطمئن کړل

چه دی د هغوئ د خوبونو تعبیر وړاندی کولی شی او د کوم مقصد د حصول د پاره چه دوئ راغلی دی، په لاس به ورته ورشی. د خوبونو د تعبیر له پاره هغوئ په خپل انتخاب کښی غلطی نه وه کړی بلکه غوره مرجع ته راغلی دی او هغه کولای شی چه د دوئ د خوبونو تعبیر دوئ ته و وائی.

دا یوه طبیعی خبره ده چه یو محتاج او آړسړی غواړی چه له هر څه نه وړاندی د هغه ضرورت پوره شی، یو ناروغ چه کله ډاکټر ته مراجعه کوی او غواړی چه ژر تر ژره ئی مرض تشخیص او دوائی ورته تجویز شی، نو که ډاکټر په دغه وخت کی له انو بهانو څخه کار واخلی او ورته ووائی صبر وکړه چه زه کتابونه وګورم او یاد هغه او دغه ډاکټر او حکیم سره ستا

د ناروغی په هکله مشوره وکړم، د مریض زړه غور ځیږی، د مایوسی او ناامیدی په حالت کښی بیرته ګرځی او شاید د بل ځل د پاره دغه طبیب ته د سره رانه شی، نو د خبرو لومړنی خبر باید داوی چه د حاجت غوښتونکی په زړه کښی باید اعتماد پیدا شی او ورته وویل شی چه ستا ضرورت پوره کیدونکی دی، ځکه خو یوسف علیه السلام په ډاډ او اطمینان زندانیانو ته وویل:

لایا تیکما طعام ترزقنه الانبأتکما بتاویله

ستاسو له پاره به ډوډی لا رارسیدلی نه وی چه زه به تاسو ته د خوبونو تعبیر واوروم او به دی شان ئی هغوئ ته ډاډ ورکړ چه ستاسی په کار کی به زیات ځنډ نه پیښیږی او ددی ضرورت به نه پیدا کیږی چه د زندان سپاهی راشی او په قهرجنه لهجه ووائی: چه ځئ خپلو ځایونو ته لاړشئ، ولی دلته راغلی یاستئ او چا اجازه درکړی ده؟

مصر د حضرت یوسف علیه السلام په زمانه کی د خاص تمدن نه برخورداره وو، او د خوراك وختونه په کی ټاکلی وو، ځکه خو حضرت یوسف علیه السلام وویل: د ډوډی راوړلو نه وړاندی به تاسو ته د خوبونو تعبیر واوروم او فارغ به مو کړم.

بحثی دربارهٔ توحید

رسیدن به عرش

قال الله تعالی:

قل لوکان معه الهة کما یقولون اذا لابتغوا الی ذی العرش سبیلا سبحانه و تعالی عمایقولون علواکبیرا.

(بنی اسرائیل ٥٤)

ازین آیه مبارکه به صراحت هویداست که الله تعالی برعرش است که برفراز آسمانها قرار دارد و کسی را بدانجا رسیدن امکان پذیرنیست و نیز آیه مبارکه تصریح می نماید که الله تعالی باین من الخلق است و کسی به عرش او تعالی دسترس یافته نمیتواند چه رسد باینکه اتحاد الوجود باشد یا امکان حلول.

در جلد ١٠ ص ٢٦٥ تفسیر القرطبی میخوانیم که:

قال ابن العباس رضی الله عنهما لطلبوا من الله منازعة و قتالا کما بفعل ملوك الدنیا بعضهم ببعض قال سعید بن جبیر رضی الله عنه المعنی اذالطلبوا طریقا الی الوصول الیه لیزیلوا ملکه لانهم شرکاءه و قال قتاده المعنی اذالابتغت الالهة القربة الی ذی العرش سبیلا والتمست الزلفة عنده لانهم دونه وابقوم اعتقدوا ان الاصنام تقربهم الی الله زلفی فاذا اعتقدوا فی الاصنام انها محتاجة الی الله سبحانه و تعالی و قدبطل انها الهة اهـ.

ترجمه: ابن عباس رضی الله عنه میگوید (اگر معبود دیگری) می بود با الله تعالی منازعت و قتال میکرد طوریکه شاهان جهان باهمد یگرمی رزمند. سعید بن جبیر می گوید: مفهوم آیه چنین است که اگر شرکاً وجود میداشت، بخاطر سقوط ملوکیت الله تعالی مبارزه میکردند. قتاده میگوید معنی چنین است که معبودان باطله برای دست یابی به عرش می کوشیدند و بخاطر دسترس یافتن بآن تلاش می ورزیدند

زیرا قدرت شان نسبت به خداوند کمتر بود. مشرکین را عقیده برآنست که بتان، آنهارا به الله تعالی نزدیك می سازند پس از عقیده شان چنین برمی آید که آنها محتاج و نیازمند خداوند جهانیان اند لهذا الوهیت شان نیز باطل است.

آیه دیگر قرآن نیزیك چنین صراحت دارد:

بل اتیناهم بالحق وانهم لکاذ بون. ما اتخذالله من ولد و ماکان معه من اله اذالذهب کل اله بما خلق ولعلا بعضهم علی بعض سبحان الله عما یصفون.

(المومنون ٦٤)

ترجمه: بلکه آورده ایم بایشان سخن راست و هر آئینه ایشان دروغ گویند. هیچ فرزید نگرفته است خدا و نیست همراه او هیچ خدائی دیگران گاه ببردی هر خدائی چیزی که آفریده بود و هر آئینه غالب آمدی بعضی ایشان بربعضی به پاکی صفت می کنم خدای را از آنچه تقریر می کنند.

برخی از واعظین و سخن گویان ضمن تشریح رویداد معراج میگویند هنگامیکه رسول الله صلی الله علیه وسلم به عرش رسید، کفش هارا بگذاشت، اما برایش دستور داده شد که باکفشهایت بالا آی. این چنین سخنان جز یا وه سرائی چیزی بیش نیست و در کتابی و روایتی دلیلی و ثبوتی برآن رانمیتوان یافت و خود آیات مبارکه فوق الذکر این گونه داستانهای خود ساخته و خود بافته را رد و محکوم میکند اگر کسی را رسیدن به عرش امکان پذیر می بود، الله تعالی به پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم دستور یك چنین چیلنج را نمی داد، بلکه حقیقت اینست که کسی را باین صفت شناختن که او به عرش رسیده است مترادف «الله قراردادن» اوست.

امام نجم الدین الغیطی در صفحات ۹۰ ـ ۹۱ رساله المعراج پس از یك سلسله تشریحات می فرماید:

و ماذکر فی السوال یعنی المتقدم من انه صلی الله علیه وسلم رقی العرش بنعله فقاتل الله من وضعه ما اعدم حیاءه وادبه ما اجرأه علی اختلاق الکذب علی سید المتاد بین راس العارفین صلی الله علیه وسلم والله اعلم بالصواب اهـ

ترجمه: آنچه در سوال گذشته مطرح شده مبنی براینکه پیامبر صلی الله علیه وسلم باکفش هایش به عرش بالاشد، خداوند واضع و سازنده این خبر واهی راقتل کند که تاچه حد بی حیاوبی ادب است و تاچه سرحد در بهتان و تهمت زدن برسید المتاد بین و راس العارفین

پاتی په (۳۳) مخ کښی

شیخ جمیل الرحمن د "بیدار" له مجلی سره په مرکه کی وویل

امریکا د افغانستان جهاد تخریبوي

یاسر عرفات د روس د ګټو حمایت کوي

د «بیدار» اردو ژبی مجله په خپله د اګست ۱۹۸۹ په ګڼه کی د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان د مجاهد رهبر شیخ جمیل الرحمن سره مرکه کړی او د مجلی مدیر جناب ملك احمد سرور وروسته له هغه چه د جماعت د امیر شیخ جمیل الرحمن لنډه سوانح حیات او د هغه د جهاد او مبارزی داستان ئی بیان کړی خپله لومړی پوښتنه ئی په دی ډول مطرح کړی ده :

پوښتنه : اوس په افغانستان کی د جهاد عمومی حالت څنګه دی ؟

ځواب : د څو ولایا تو له مرکزونو او ښارونو پرته نور د افغانستان ټوله خاوره د مجاهدینو په تصرف کی ده. پنځه ولایتونه په پوره ډول آزاد او هلته د مجاهدینو حکومت تشکیل شویدی. د نورو ولایاتو مرکزونه هم د الله د لاری د مجاهدینو تر محاصری لاندی دی ، او مجاهدینو د ښارونو شاوخوا پخی مورچی جوړی کړی او ددی امکان ئی محوه کړی چه محصورو کابلی پوځیانو ته مهمات راورسیږی د کابل سره د هر ولایت ځمکنی مواصلاتی اړیکی پری شوی او محصورو پوځیانو ته یوازی دالوتکو په ذریعه مهمات رسول کیږی. مجاهدین په خپلو آزادو سمیوکی آزاد او مستقل دی او بل خوا کابلی پوځیان په هر ځای کی د زندانیا نو حیثیت لری چه حتی له خپلو مورچونه هم نشی راوتلی ، پرچمی پوځیانو د

ځان د بقاله پاره پخی مورچی جوړی کړی او د ښارونو شاو خوائی د مینونو دیوال چاپیرکړی خو د دی ټولو مشکلاتو سره سره مجاهدین په ښارونو باندی دلوئی حملی لپاره تیاری نیسی، خو د ښارونو داوسیدونکو د تباهی مساله د لویو حملو په لارکی لوی خنډدی.

پوښتنه: څه فکر کوی چه د روسی پوځیانو له وتلو وروسته د جهاد پروسه سړه شوی نه ده؟

ځواب: د افغانستان مسلمان ولس خپل مقدس جهاد د تره کی د رژیم له راتګ سره سم پیل کړی دی او په دغه وخت کی روسی پوځیانو په مستقیم ډول په افغانستان حمله نه وه کړی، مونږ د خلقیانو او پرچمیانو د الحادی حکومت په خلاف د جهاد جګړه توده کړه او اوس هم همدغه د خلقیانو او پرچمیانو حکومت په کابل کی ناست دی، نو څنګه دا سوال پیدا کیږی چه د جهاد جګړه دی سړه شی. دا یوه افواه ده چه هیڅ حقیقت نه لری. په افغانستان کی به مقدس مسلحانه جهاد د شرك او الحاد د جرړو دبوره ویستلو او په هیواد کی د اسلامی نظام د ټینګښت تروخت پوری روان وی. مجاهدین د هیواد په ټولو سیمو کی د جهاد په جګړه بوخت دی او حقیقت دادی چه د روسی پوځیانو تروتلو وروسته د مجاهدینو مورال تربل هر وخت نه زیات قوی شوی او داللّه په نصرت او په خپله کامله فتح ئی باور نورهم زیات شویدی. د مجاهدینو په نزد د روسی پوځیانو موجودیت او د خلق او پرچم حکومت یوه معنی لری او د دواړو ترمنځ هیڅ توپیرنشته، د مجاهدینو عقیده داده چه د خلقیانو او پرچمیانو په خلاف جهاد داسی فرض دی لکه څنګه چی د روسانو په خلاف را باندی فرض ؤ.

پوښتنه: په جلال آباد کی د مجاهدینو د شکست عوامل څه ؤو؟

ځواب: دا یوه غلطه او بی محتوا خبره ده چه ګوندی مجاهدینو د جلال آباد په محاذ شکست خوړلی دی. دا یوازی د دشمن زهر جن پروپاګنډ دی، ترڅو په دی وسیله د مجاهدینو او دهغوی د خیرخواهانو زړونه ناامیده کړی. که پوښتنه داسی مطرح شی چه د جلال آباد فتح ولی وځنډیده، نو تری یوی اندازی جواز لری. په ځواب کی باید ووایم چه د فتحی د ځنډیدو څه خاص عوامل موجود دی. یوه خبره خو داده چه ځینی عناصر و چه له جهاد سره ئی هیڅ تعلق نه درلود په غیر مسئولانه ډول ئی د جلال آباد د فتحی لپاره یوه هفته د ضرب الاجل په حیث و ټاکله، په داسی حال کی چه د دوی دغه فکر غلط ؤ. ځکه دوی خود جګړی له ډګر سره ناآشنا وو او مشکلات ورته معلوم نه

وو . دوی لـه دی نـه خبـر نـه وو چـه دښمن خپل ټول قوت په جلال آباد کی مرکوز کړ . د ځان د دفاع لپاره ئی پخی مورچی کیندلی او د سوونو زرگونو مینونو جال ئی له خپلو خندقونو چاپیر کړی دی . برسیره په دی د روس بم غورزونکی الوتکی او مدرنه تباه کوونکی وسله د مجاهدینو په خلاف استعمالیده . بل خوا ننگرهار یوه میدانی سیمه ده چه مجاهدین نشی کولی د دښمن د فضائی حملونه ځان بچ وساتی ، د مجاهدینو له پاره نه خوپخی مورچی او خندقونه شته او نه په فضا کی د جگړی وسایل . که د مجاهدینو سره څه دی نو هغه یوه اندازه ناقصه وسله ده ، دوسلی او مهماتو شدید قلت دی چه نن سبا ورسره مجاهدین مخامخ دی . زمونږ سره داسی کافی وسله نشته چه د دښمن نظامی قرارگاوی ورباندی وویشتل شی . د مجاهدینو سره یوازی د گوریلا جگړی وسایل دی ، خو د دی سره سره هغوی د خپل ایمانی قوت په اتکا دښمنان له پښو غورزولی دی . شك نشته چه په جگړه کی مجاهدینو ته زیات تاوان رسیدلی خو بیاهم د دښمن د خساری په تناسب لږدی . تراوسه دښمن په دی نه دی موفق شوی چه د مجاهدینو څخه یوه لویشت آزاده سیمه ونیسی بلکه دا مجاهدین دی چه هره ورځ یوه نه یوه سیمه د دښمن د ناپاکو قدمونو څخه پاکوی . تاسو یوازی دا خبره کولی شی چه د مجاهدینو پرمختگ گړندی نه دی .

پوښتنه: د افغانستان دموقت حکومت خارجه وزیر ویلی دی چه امریکی په مجاهدینو باندی وسله بنده کړی ده ، دغه کاربه په جهاد باندی څه اغیزه وکړی ؟

ځواب: زمونږ تنظیم ته وړاندی له دی هم امریکائی وسله نه وه ورکړی شوی خوبیا هم زمونږ مجاهدین په دی بریالی شوی چه له دښمن څخه د غنیمت اخستل شویو وسلو په واسطه ، د دښمن وسله والو بو ځونو ته شکست ورکړی . د کونړ ولایت چه هلته زمونږ د مجاهدینو اکثریت دی له ټولو نه لومړی آزاد شوی ولایت دی . امریکا د خپلو گټو خیال ساتی . په مجاهدینو باندی دوسلی د بندیز په وسیله غواړی چه خپل خواهشات په مجاهدینو باندی تحمیل کړی په دی ډول امریکا د افغانستان جهاد تخریبوی . خو نړی ته ښکاره ده چه مجاهدینو په امریکائی وسله جهاد نه دی پیل کړی او اوس هم د دی توان او قدرت لری چه د امریکی دوسلی نه غیر د جهاد جگړه توده و ساتی .

پوښتنه: ستاسو د جماعت د مجاهدینو شمیر څوتنه دی ؟

ځواب: د افغانستان په پنځلسو ولایاتو کی

زمونږ د مجاهدینو شمیر لسو زرو تنو ته رسیږی خو د غیر مسلحو مجاهدینو شمیر د پنځو سو زرو نه هم زیات دی او په هغو ولایاتو کی چه زمونږ منظم مرکزونه نشته، د جماعت مجاهدین د نورو تنظیمونو د مجاهدینو په ملگرتیا د جهاد په جگړه کی برخه اخلی.

پوښتنه: مهربانی وکړی د جماعت د رفاهی او د دعوت د چارو په باب معلومات راکړی؟

ځواب: زمونږ له جماعت سره په دولتی سطحه د هیچاله خوا مرسته نه ده شوی، خو موږ دخپلو محدودو وسایلو نه په استفادی کولو سره د مهاجرینو د فلاح او بهبود خاص پروگرامونه جوړ کړی چه روغتونو نه او مدررس هم پکی شاملی دی. اوس زمونږ په مربوطاتو کی دری سوه پنځوس دینی مدرسی فعالیت کوی چه لږ ترلږه څلویښت زره تنه پکی د دینی تعلیم په زده کړه بوخت دی.

پوښتنه: څه فکر کوی چه دافغانستان د مسألی په باب د پاکستان په پالیسی کی تغیر او تبدیل را منځته شوی دی؟

ځواب: تر اوسه په ښکاره ډول په دغه پالیسی کی هیڅ ډول تغیر نه لیدل کیږی.

پوښتنه: ستاسو د جماعت په موقت حکومت کی شامل نه دی. د نجیب د حکومت له رانسکوریدو وروسته به ستاسو د جماعت موقف د موقت حکومت په باب څه وی؟

ځواب: که موقت حکومت د خپلی وعدی سره سم د قرآن او سنت نظام نافذ کړی مونږ به ئی حمایت او مرسته وکړو.

پوښتنه: په افغانستان کی د هند د مداخلی او لاس وهنی په باب څه نظر لری؟

ځواب: هند دافغانستان د مسألی د پیل سره سم د روسی استبداد او جارحیت حمایت کړی او کوی ئی، اوس هم د هند نظامی مشاورین او پیلوټان په افغانستان کی په فعالیت بوخت او د مجاهدینو په خلاف عملاً په جگړه کی داخل دی، روسی پیلوټان اوس هم زمونږ کلی بمباروی. مونږ روس او هندوستان دواړو ته د اسلام او افغانستان سره په دښمن کی، په یوه سترگه گورو.

پوښتنه: یاسر عرفات د مجاهدینو او نجیب ترمنځ د سولی او مصالحت له پاره ځان راوړاندی کړی، ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: د افغان مجاهدینو او یاسر عرفات په نظر یا تو او افکارو کی د ځمکی او آسمان فاصله ده. مجاهدین د اسلام علمبرداران دی او یاسرعرفات د روس د گټو تحفظ غواړی. مجاهدین د نجیب او یاسرعرفات په نظریاتو کښی د هیڅ ډول فرق احساس نه کوی، یاسر عرفات له لومړیو وختونه د کمونستانو ملاتړ او

حمایت کوی. په دی اساس نو موږ ی د افغانستان د مسألی د حل په لاره کی هیڅ ډول رول نشی اداً کولی او وړاندی کړی تجاویز ئی کومه مثبته نتیجه نشی ورکولی.

پوښتنه: د کابل د آزادی نه وروسته به د کشمیر د آزادی په لار کی د مجاهدینو رول څه وی؟

ځواب: پاکستان او افغانستان یو ملت ګڼل کیږی. د کشمیر مساله مونږ ته هماغو مره ارزښت لری څومره چه پاکستان ته ئی لری. له هند سره داسی دښمنی لرو څومره چه ئی پاکستان ورسره لری. په همدی اساس د مقبوضه کشمیر آزادی زمونږ مشترکه وظیفه ده او انشاءالله د کابل د آزادی نه وروسته به د کشمیر د آزادی جنګ د جهاد په حیث په ځان فرض و ګڼو او لکه څنګه چه مو روس له افغانستان څخه په و تلو مجبور کړ، همداسی به هندوان هم له کشمیر نه و باسو.

پوښتنه: د افغانستان د جهاد په باب زیات څه ویل غواړی؟

ځواب: د افغانستان جهاد یوازی په افغانانو پوری منحصرنه دی بلکه په ټولو مسلمانانو باندی فرض دی په دی اساس د ټول عالم اسلام وظیفه داده چه د افغان مجاهدینو سره هر ډول مرسته وکړی. د افغانستان د آزادی نه وروسته هم جهاد پای ته نه رسیږی بلکه ترهغه وخته باید دوام ولری چه طاغوت د الله تعالی له ځمکی ورك شی او د نړی په ګوټ ګوټ کی مسلمانان د کفارو له تسلط نه خلاص شی. لازمه خبره داده چه د نړی ټول مسلمانان د افغانستان د جهاد نه په عبرت اخستو سره په ټوله نړی کی جهاد پیل کړی او د مقدس جهاد په وسیله د طاغوت قوت ختم او د الله تعالی په ځمکه کی د الله تعالی نظام نافذ او تطبیق کړی.

د شرق "بی دینان" او د غرب "بدینان" او د دوی "نزدګان"، دې پدې وپوهیږی چې مونږ به لومړی په افغانستان او بیا په ټوله نړی کښې د کفر، الحاد او استعمار پر ضد خپل جهاد جاری وساتو.

(مولوی جمیل الرحمن)

حقانیت مسلك اهلحدیث



ارشاد هادی کائنات صلی الله علیه وسلم :
عن عائشه رضی الله تعالی عنها قالت : کان رسول صلی الله علیه وسلم ! یستفتح الصلوة بالتّکبیر .... وکان یختم الصّلوة باالتّسلیم

(بلوغ المرام)

ترجمه : حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرماید : رسول الله صلی علیه وسلم نماز به الله اکبر شروع میکرد وبه سلام ختم می نمود .

عن ابن عباس رضی الله عنهما : أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال فیخیّل إلیه أنه أحدث ولم یحدث فإذا وجد ذالك فلا ینصرف حتی یسمع صوتا او یجد ریحاً « بلوغ المرام ـ بزار » .

ترجمه : از ابن عباس رضی الله تعالی عنه مروی است که : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود . شیطان در مقعد نماز گزار پف نموده اورا در اشتباه می انداز د که بی وضو شده است ، در حالیکه از آن هوا خارج نشده است . پس هرگاه به انسان چنین کیفیت رخ داد تا وقتیکه آواز و یابوئ آنرا محسوس نه نماید از نماز خود منصرف نشود ، یعنی هر گاه به خروج هوا یقین نمود پس بخاطر اعادهٔ وضوء باید از نماز منصرف شود .

اختلاف فقه :

ان تعمد الحدث فی هذه الحالته او تکلم او عمل عملا ینافی الصلوة تمت صلوته . « هدایه باب لحدث .»

ترجمه : اگر قصداً و عمدا هوا خارج نماید ، یا سخن گوید یا کدام عمل منافی نماز انجام دهد ، در هر صورت نماز نماز گزار تمام شده است ، به تعقب آن می فرماید .
برآن اعاده واجب نیست .

برادران عزیز و گرامی :
شما خود غور نمائید ـ رسول الله صلی الله علیه وسلم ، سلام را اختتام دهندهٔ نماز گفته است و خروج هوا را از جملهٔ نواقض نماز شمار نموده است لیکن نزد فقه خروج هوا نه تنها شکنندهٔ

وضوء نیست بلکه نماز رانیز فاسد نمی کند حتی مکمل و متمهم نماز نیز به شمار رفته است .

(ب) مسئله امامت در نماز :

رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید :

یؤم القوم أقراءهم کتاب الله تعالی فإن کانوا فی القراءة سواء فاعلمهم بالسنته فان کانوا فی السنته سواء فأقدمهم هجرة فان کانوا فی الهجرة سواء فأقد مهم سناً . « صحیح مسلم»

ترجمه :

« حقدار أمامت برای مردم کسی است که از همه بیشتر حافظ قرآن باشد . اگر در قرائت قرآن همگی مساوی باشند . پس مستحق امامت کسی است که بیشتر عالم به سنت بوده باشد ، اگر در فهم سنت نیز همگی برابر باشند . بس باید کسی امامت نماید که باعتبار عمر از دیگران کهن سال و بزرگ باشد ، واگر در عمر نیز مساوی باشند . پس حقدار کسی است که از دیگران پیشتر هجرت نموده باشد .»

در حدیث مذکور نبی اکرم صلی الله علیه وسلم برای امامت چهار صورت بیان نموده است ، پس بأمت لازم است که بتأسی از رسول الله صلی الله علیه وسلم مطابق آن عمل نمایند و از جانب خود هیچگونه زیادتی برآن نه نمایند زیرا اینکه هرگاه رسول الله صلی الله علیه وسلم در مورد اؤ فیصله نموده باشد دیگر امت حق تجاوز از آنرا ندارد . در آن (امر فیصله کردهٔ پیامبر) دیگر از تقدیم وتأخیر ، تغیر و تبدیل نباید کارگرفت . حالا مشاهده نمائید که در مورد مسئله امامت « فقه » با حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم چگونه برخورد نموده است .

فقه :

فأولی الناس بالإمامته أعلمهم بالسنته فإن تساوؤ فأقرء هم فان تساوؤ فأورعهم فان تساوؤ فاسنهم : هدایه ـ ج ـ ١ـ باب الامامت ـ»

ترجمه : مستحق امامت کسی است که اعلم بالسنت باشد ، اگر در علم با سنت مساوی باشند . پس کسیکه بیشتر حافظ قرآن است واگر در قرائت نیز باهم مساوی باشند . پس کسیکه أورع و پرهیز گار تر از دیگران است و اگر در آن نیز مساوی باشند پس مستحق امامت کسی است که باعتباو.عمر از دیگران بزرگتر است .

حالا چهار صورت مذکوره در حدیث را با این چهار صورت مذکوره در فقه تقابل نمائید .

(١) نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ـ در مرتبهٔ اول مستحق امامت شخصی را قرار داده اند که بیشتر حافظ قرآن باشد ، اما در فقه در مرتبهٔ اول مستحق کسی را قرار داده است که زیاده عالم به سنت باشد ، این بذات خود یکنوع تبدیلی در حکم رسول الله صلی الله علیه وسلم به شمار می رود

(٢) در مرتبهٔ دوم رسول الله صلی الله علیه وسلم ـ مستحق امامت کسی را قرار دادند که از دیگران بیشتر عالم به سنت باشد اما « فقه» در

مرتبهٔ دوم حافظ قرآن را تعیین نموده است، در اینجا نیز با فرمان رسول الله صلی الله علیه وسلم مخالفت شده است .

(۳) در مرتبهٔ سوم حضور اکرم صلی الله علیه وسلم - مستحق امامت أقدم بالهجرت را قرار داده است ، أما فقه تقوی و پرهیزگاری را اعتبار نموده است . درین موقع نیز از ارشاد رسول الله صلی الله علیه وسلم - مخالفت شده است .

(٤) در مرتبهٔ چهارم حدیث و فقه هر دوباهم موافق آمده أند .

برادران مؤمن! شما خود غور و تدبر نمائید ، آیا کسی حق دارد که در فیصله ها و فرامین رسول الله صلی الله علیه وسلم از نزد خود تبدیلی بیاورد ؟« دو هر گز چنین حق برای کسی داده نشده است» . پس برادران احناف چرا صورت هاے خود ساخته و فرضی خود را به صورت های منصوصی و قطعی حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم ترجیح میدهند ؟ نه تنها به رد و بدل نمودن صورت های بیان کردهٔ رسول الله صلی الله علیه وسلم اکتفاء نکردند بلکه مزید درین باب می نویسند .

چنانچه در در مختار اضافه می نماید :

والأحق بالإمامته الأعلم باحکام الصلوة ثم الأحسن تلاوة ثم الأورع ثم الأحسن خلقا ثم الأ حسن و جهًا ثم الأشرف نسبا ثم الأنظف ثوبًا . فإن استوو یقرع او الخیار الی القوم . « تنویر الابصار متن در مختار »

ترجمه :

(۱) اولتر از همه مستحق امامت کسی است که بیشتر به احکام و مسایل نماز آشنا باشد .

(۲) بیشتر خوش آواز و حسین الصوت باشد .

(۳) بیشتر متقی و پرهیزگار باشد .

(٤) نسبت به دیگران نیك خو و خوش اخلاق باشد .

(٥) از نظر عمر نسبت به دیگران کهن سال و بزرگ بوده باشد .

(٦) بیشتر حسین و خوبصورت باشد .

(۷) از لحاظ نسب نسبت به دیگران شریف النسب باشد .

(۸) لباس فاخر و بیش قیمت به تن داشته باشد .

(۹) اگر در اوصاف مذکور همگی برابر باشند .

(۱۰) پس قرعه اندازی نمایند یا اینکه مردم مطابق رائی و صواب دید خود کسی را براے امامت انخاب نمایند .

برادران محترم ! خود شما قضاوت نمائید که در حدیث فقط چهار صورت مذکور بود ، ابتدا ایشان در آن تغیر آوردند . بعد از آن ده (۱۰) صورت فرض دیگر از نزد خود اختراع نمودند . شاید تعجب نمائید که صاحب در المختار علاوه از صور یاد شده مزید به تعداد آنها می افزاید . چنانچه ایشان می فرمایند :

ثم أصبحهم أی اتمعنهم وجهاً ثم اکثر هم حسباً ثم
الاحسن ثم الأحسن زوجته ثم الأکثر مالا ثم الاکثر
جاهاً ثم الأکبر راساً والأصغر عضواً ثم المقیم
علی المسافر ثم الحسر الاصلی علی العتیق ثم
المتیمهم عن حدث علی المتیمهم عن جنابته
...... فإن اختلفو اعتبر اکثرهم « در مختار »

ترجمه :

(۱۱) بعد از آن کسیکه بیشتر از دیگران چهرهٔ درخشان و تابان داشته باشد .

(۱۲) عالی حسب باشد .

(۱۳) بیشتر خوش آواز باشد .

(۱٤) کسیکه زن آن از زن های دیگران حسین و خوبرو باشد .

(۱۵) از حیث مال ودارائی نسبت به دیگران غنی و متمول باشد .

(۱٦) کسیکه سرآن بزرگ وعضو آن (ذکر آن) کوچك باشد .

(۱۷) کسیکه از حیث مرتبه و منزلت نسبت به دیگران برتری و مزیت داشته باشد .

(۱۸) مقیم برای مسافر .

(۱۹) کسیکه ابتداً آزاد باشد برای کسیکه بعداً از غلامی آزاد شده باشد .

(۲۰) کسیکه عوض وضوء تیمم نموده است برای کسیکه عوض غسل جنابت تیمم نموده است .

بااین همه اگر مردم اختلاف کردند پس مستحق امامت کسی است که مورد تائید اکثریت قرار گیرد .

(ج) مسئلهٔ یك رکعت وتر :

فرمان رسول الله صلی الله علیه وسلم :

ومن أحب أن یوتر بثلث فلیفعل و من أحب أن یوتر بواحدة فلیفعل . (ابوداود ـ نسائی ـ ابن ماجه)

ترجمه :

کسی بخواهد نماز وتر بخواند در میان سه رکعت و یك رکعت اختیار دارد (یعنی برای آن مجاز است که یك رکعت بخواند ویا سه رکعت) الوتر رکعته من آخر اللیل ـ صحیح مسلم .

ترجمه :

پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود : وتر عبارت از یك رکعت نماز است در حصهٔ آخر شب .

اختلاف فقه :

از فرمان رسول اله صلی الله علیه وسلم بلا شبه یك رکعت وتر ثابت شد بناء برای خواندن یك رکعت وتر جواز ثابت شد . لیکن از دیدگاه فقه احناف برای خواندن یك رکعت وتر هیچ گونه جواز دیده نشده است نه تنها جواز نیست بلکه ممنوع و نادرست نیز شماریده شده است .

چنانچه صاحب هدایه می نویسد :

الوتر ثلاث رکعات « هدایه ـ باب الصلوة»

ترجمه : وتر سه رکعت است .

تمام برادران أحناف سه رکعت وتر می خوانند ، لیکن کجا مجال اینست که گاهی با در نظر

داشت حدیث یك رکعتی ، یك رکعت بخوانند وازین طریق بحدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم عامل شوند . هر گزنه ، تمام عمر خود را در قید واسارت تقلید بسر نموده سه رکعت می خوانند . « آن نیز مطابق سنت رسول الله نیست بلکه موافق طریق اختراعی وخود ساختهٔ خود اداء می نمایند .»

سوال اینجا است که حق قد غن نمودن و ممنوع قراردادن یك رکعت وتر ، که از فرمان رسول الله صلی الله علیه وسلم ثابت است برای امتیان چگونه و از کجا حاصل شد ؟ .

در حالیکه مناسب برای أمت این است که بگویند « مردم درخواندن یك و یا سه رکعت وتر آزادی دارند هیچ نوعه ممانعت و انحصار در انتخاب این دو وجود ندارد .

(د) جلسهٔ إستراحت :

فعل رسول الله صلی الله علیه وسلم :

فاذا کان فی وتر من صلوته لم ینهض حتی یستوی قاعدا . « بخاری شریف»

ترجمه : حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ، هرگاه از رکعت اول ویاسوم قائم می شد بعد از سجدهٔ دوم با اطمینان وسکون کامل جلسه می نمود بعد از آن بطرف قیام بر می خاست .

از حدیث فوق دانستید که حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ، در رکعت اول و سوم بعد از سجدهٔ دوم با اطینان می نشست (جلسهٔ استراحت می نمود) بعد از آن قیام می نمود .

حالا حکم فقه را ملاحظه نمائید :

اختلاف فقه !

واستوی قائما علی صدور قدمیه ولایقعد .(هدایه ـ باب صفة الصلوة)

ترجمه :

نماز گزار بدون جلسهٔ استراحت بااعتماد به سر انگشتان پاهای خود قائم شود .

تمام برادران احناف چشم وگوش بسته حکم هدایه را بغیر دلیل تسلیم نموده هیچگاه جلسهٔ استراحت نمی نمایند ، پس چرا ایشان فرمان رسول الله صلی الله علیه وسلم را قبول نمیکنند ، حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم را در مقابل قول یك فرد از امت ترك میکنند ؟ اللهم اهدنا وایاهم الی تسلیم قول رسولك .

برادران مسلمان !

بیائید بادرنظر داشت حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم و با تعمیل فرمان آنحضرت صلی الله علیه وسلم ، در نماز جلسهٔ استراحت نمائید ، « درین صورت عمل به قول رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمان ائمه کرام هر دو صورت میگیرد » زیرا ائمه کرام نیز بسوء عمل به حدیث رسول الله صلی الله تشویق و ترغیب [illegible]ده أند و از ابتداء و قیاس آرائی در دین به سختی وشدت منع نمودند .

(ح) مسئلهٔ تیمم :

در حدیث فقط یك ضرب آمده است .

ضرب النبی صلی الله علیه وسلم بکفیه الأرض ونفخ فیهما ثم مسح بهما و جهه وکفیه . « بخاری و مسلم»

ترجمه : رسول ألله صلی الله علیه وسلم هنگام تیمم هر دو دست خود را بخاك زدند بعد از آن پف نموده به چهرۀ مبارك مالیدند .

از فعل آنحضرت صلی الله علیه وسلم ثابت می شود که برای تیمم یك ضرب است اما در فقه می نویسد :

والتیمم ضربتان ـ « هدایه باب التیمم»

ترجمه : در تیمم دو ضرب است .

برادران أحناف حتی یك مرتبه نیز بطور سهو و نسیان به حدیث یك ضرب عمل نمیکنند .

(ط) مسئلۀ مسح برعمامه :

عمل آنحضرت صلی الله علیه وسلم :

عن المغیره ابن شعبة ان النبی صلی الله علیه وسلم توضأ فمسح بناصیته و علی العمامته وعلی الخفین . (صحیح مسلم)

ترجمه : از حضرت مغیره بن شعبه روایت است که : نبی اکرم صلی الله علیه وسلم هنگام وضوء بربالائی موهای پیشانی خود وبربالای عمامه و موزه های خود مسح می نمود .

اختلاف فقه :

از حدیث فوق ثابت شد که حضور اکرم صلی الله علیه وسلم بربالائ عمامه مسح می نمود ، لکن در مذهب حنفی مسح برعمامه جایز نیست . چنانچه صاحب هدایه می نویسد :

ولایجوز علی العمامة « هدایه کتاب الطهارت» .

ترجمه : مسح العمامة (هدایه کتاب الطهارت) در صورتیکه حضور اکرم صلی الله علیه وسلم بربالای عمامه مسح کند اما غتوی فقه برعدم جواز آن باشد این آقایان « لایجوز »گویان بغیر دلیل و برهان کیها و از کجا و از کدام مردم أند ؟

(ك) تبدیل نمودن شراب به سرکه : حرمت آن از حدیث !

عن انس رضی الله تعالی عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم سئل عن الخمر یتخذ خلا فقال لا . (مسلم)

ترجمه :

از حضرت انس رضی الله تعالی عنه روایت است که : از رسول الله صلی الله علیه وسلم : پرسیده شد آیا شراب به سرکه تبدیل کرده می شود . یعنی در تبدیلی شراب بر سرکه شرعا کدام قباحت است و یا نه آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود نه ، یعنی این عمل جایز نیست .

اختلاف فقه :

و اذا تخللت الخمر حلت سواء صارت خلا بنفسها او بشئی یطرح فیها ولایکره تخلیلها(ـ هدایه کتاب الاشربته) .

ترجمه : هرگاه شراب به سرکه تبدیل شود ، حلال می شود ، عام ازینکه بغیر اختلاط با کدام چیزی خود بخود بنفسه به سرکه تبدیل شود یا توسط اختلاط ویکجا شدن باکدام چیزی « مانند نمك وغیره» در هر دو صورت حلال است ، هیچگونه امتناع و ممنوعیت در آن دیده نمی شود .

حقیقت انیست که از چنین جرأت و جسارت موبربدن می لرزد از یك طرف رسول الله صلی الله علیه وسلم فتوی می دهد که سرکه ساختن شراب ناجایز است ، در مقابل فقه حنفی به جواز آن فتوی صادر می نماید . حالا خود شما فیصله نمائید که انجام مخالفت با حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم چه خواهد شد در حالیکه قول مشهور از امام صاحب مروی است « اذا صح الحدیث فهو مذهبی » و در حدیث صحیحی ، صحیح مسلم آمده است ، که سرکه ساختن شراب ناجایز وممنوع است ،» پس هر حنفی که واقعا در دعوائی حنفیت خود صادق باشد ، بامشاهدهٔ حدیث مذکور وقول امام ابو حنیفه ، بلا درنگ به حرمت تخلیل شراب معتقد شود و به ممنوعیت آن إعلان نماید .

(ل) مسئلهٔ خرید و فروخت سگ :

از روی حدیث بیع و شراء سگ حرام است .

چنانچه رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید :

عن ابی مسعود الانصاری ان رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی عن ثمن الکلب ومهر البغی و حلوان الکاهن . (مشکوة) (کتاب البیوع بحوالهٔ بخاری ، مسلم)

ترجمه :

رسول الله صلی الله علیه وسلم از قیمت سگ و از معاوضیکه زن زانیه در بدل زنا کاری بدست آورده است ، و از أجرت کاهن منع نموده است .

درین حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم از خرید و فروخت سگ منع نموده است ، لیکن فتوی مذهب حنفی را ملاحظه نمائید یجوز بیع بیع الکلب (هدایه کتابُ البیوع)

ترجمهٔ : خرید و فروخت سگ جایز است .

برادران احناف ! خدای را ! از تقلید جامد و تباه کن دستبردار شوید ، در روشنی دلیل(حدیث) خرید و فروخت سگ را ممنوع و ناجایز بدانید . زیرا نجات و کامیابی فقط در اتباع رسول الله صلی الله علیه وسلم نهفته است وبس .

(م) اقتداء متنفل عقب مفترض :

جواز آن از روی حدیث :

عن جابر قال کان معاذ بن جبل یصلی مع النبی صلی الله علیه وسلم ، ثم یأتی قومة فیصلی بهم .(بخاری ، مسلم)

ترجمه :

از حضرت جابر رضی الله تعالی عنه ، روایت است که معاذ ابن جبل در عقب رسول الله صلی الله علیه وسلم نماز عشاء را می خواند بعد از

آن نزد قوم خود می رفت و برای ایشان امامت می نمود .

از حدیث فوق ثابت شد که در عقب امام متنفل (نفل گزار) نماز فرض گزار درست می شود . « گویا جواز این عمل بذات خود از طرف شریعت یك نوع سهولت و آسانی برای امت است » حالا فتوی مذهب حنفی را درین مورد ملاحظه فرمائید .

اختلاف فقه :

ولا یصلی المفترض خلف المتنفل (کتب فقه) .

ترجمه :

نماز فرض گزار در عقب نفل گزار جایز نیست .

خوانندگان گرامی! شما خود قضاوت نمائید ، صحت نماز فرض گزار عقب نفل گزار توسط نص صریح حدیث ثابت است .

معاذ متنفل برای مردمان مفتهرض امامت می کند ، حضور صلی الله علیه وسلم منع نمی نماید ، لیکن احناف از آن به شدت منع می نمایند . آیا این خبر مقابلهٔ رویا روئی و مخالفت صریح با حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم چیزی دیگری هست . (یقینا مخالفت و عناد با حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم است) .

قلندران طریقت به نیم جو نخرند

قبائی اطلس آنکس که از هنر عاری است

(ن) مسئلهٔ ناپاکی ظرف از ناحیه ولوغ کلب در آن :

حکم رسولالله صلی الله علیه وسلم :

عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا شرب الکلب فی اناء أحدکم فلیغسله سبع مرات (بخاری و مسلم)

ترجمه : از حضرت ابو هریرة رضی الله تعالی عنه روایت است که : رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم فرمود : هرگاه سگ از ظرف شما بنوشد . پس (طریقهٔ پاك شدن آن این است که) « آن ظرف » را هفت بار بشوئید .

اختلاف فقه :

یغسل الاناء من ولوغه ثلثا « هدایه کتاب الطهارة »

ترجمه : هرگاه سگ از ظرف ، ظرف بنوشد آنرا سه بار شسته شود .

برادران عزیز و گرامی!

ثما خود انصاف نمائید ، از یك طرف حدیث متفق علیه بخاری ومسلم است و از طرف دیگر قول بی دلیل وبی برهان « فقه »بانهم فقه مغز قرآن وحدیث گفته شود : « این چه بو العجبیست »

(خ) مسئله نماز خواندان بر سقف بیت الله و ممانعت پیامبر صلی الله تعالی علیه وسلم :

عن ابن عمر رضی الله تعالی عنه قال نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یصلی فوق ظهر بیت الله « ترمذی شریف»

ترجمه :

از حضرت ابن عمر رضی الله عنه مروی است که

: رسول الله صلی الله علیه وسلم از نماز خواندن برسقف (بام) بیت الله منع نمودند .

إختلاف فقه :

من صلی ظهر الکعبة جازت صلوته . (هدایه باب الصلوة فی الکعبة)

ترجمه:

اگر شخصی برسقف بیت الله نماز گزارد نماز آن درست است .

تبصره : حضور اکرم صلی الله تعالی علیه وسلم ، از خواندن نماز بر بالای سقف بیت الله منع نمودند ، اما فقه به جواز آن فتوی میدهد ، این جواز از کجا و چرا ؟ فعل و عملیکه رسول الله علیه وسلم ارتکاب آنرا ممنوع قرار داده باشد ، کردن آن چرا جایز باشد ؟ این در حقیقت یك نوع تشریع وآئین سازی است که با دین الهی و شریعت محمدی سراسر مخالف و منافی است .

(ف) مسئلهٔ امامت نساء :

اجازهٔ رسول خدا صلی الله علیه وسلم :

عن ام ورقه أمرها ان تؤم اهل دارها . « ابو داؤد باب امامته النساء »

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم ام ورقه را امر نمود که برای اهل وخانوادهٔ خود امامت نماید .

عن عائشه رضی الله تعالی عنها ـ انها تؤم النساء و تقوم و ستطهن .

ترجمه:

حضرت عائشهٔ صدیقة ، طیبة ، طاهره رضی الله تعالی عنها در وسط صف می استاد وبرای زن ها امامت می کرد .

اختلاف فقه :

یکره للنساء أن یصلین وحدهن الجماعته.

(هدایة باب الامامته)

ترجمه : جماعت زن ها به تنهائی خود شان (بدون معیت رجال) مکروه است .

برادران احناف !

رسول الله صلی الله علیه وسلم جماعت زن ها را به تنهائی خود شان (بدون معیت رجال) اجازه داده است ، امامت زن را برای زن ها روا دانسته است ، اما در فقه ممنوع و نادرست قرار داده شده است .

غور نمائید ، و حاضر شدن در داد گاه عدل الهی را فردائی قیامت از یاد نبرید ، یقین کنید که مخالفت با حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم امریست بس خطیر و عظیم . در مقابل امر سید الکونین «یکرهٔ» گفتن چقدر بی باکی و گستاخی است .

(ض) مسئله قطع نمودن دست دزد :

فرمان خداوند :

والسارق والسارقته فاقطعوا أیدیهما « القرآن»

ترجمه:

دست دزد را مرد باشد یازن قطع نمائید . ارشاد رسول الله صلی الله علیه وسلم : تقطع یدالسارق

فی ربع دینار « متفق علیه»

ترجمه :

دست دزد در مقابل چهارم حصهٔ یك دینار قطع کرده می شود « یعنی مال مسروقه» اگر ادزش چهارم حصهٔ یك دینار را داشته باشد ، در آنصورت مطابق فرمان شرع دست آن قطع کرده می شود .

نیز رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید . لعن الله السارق یسرق البیضة فتقطع یده و یسرق الحبل فتقطع یده . « بلوغ المرام»

ترجمه :

خداوند لعنت نماید دزد یرا که بسبب دزدیدن یك تخم و یا یك حبل « رسمان» دست آن قطع کرده می شود .

اختلاف فقه:

(۱) لا تقطع فیما یتسارع الیه الفساد کا النبن واللحم والفواکه الرطبه .

ترجمه :

آشیائیکه دیرپا نیستند و بزودی خراب می شوند مانند ، شیروگوشت و میوهٔ تر ، اگر کسی آنها را دزدی نماید ، دست آن قطع کرده نمی شود .

(۲) لا سرقته المصحف وإن کان علیه حلیة « هدایه»

ترجمه:

اگر کسی قرآن کریم را دزدی نماید اگرچه بآب طلا نوشته شده باشد دست آن قطع کرده نمی شود .

(۳) لافی طنبور :

ترجمه:

کسی که طنبور را دزدی نماید دست آن بریده نمی شود .

(٤) لایقطع فی أبواب المسجدالحرام :

ترجمه:

اگر کسی دروازه های مسجد حرام را دزدی نماید دست آن بریده نمی شود .

(٥) لاالصلیب من الذهب ولاالشطرنج (هدایه)

ترجمه :

هکذا اگر کسی صلیب را (ولواز طلا باشد) سرقت نماید و یا شطرنج را دزدی نماید د ستش بریده نمی شود .

(٦) لاقطع علی السارق الصبی الحر وان کان علیه حلی (هدایه).

ترجمه : اگر کسی کدام صبی (بچهٔ کوچك) را بدزدد در حالیکه « صبی»حلیه و زیور نیز بتن داشته باشد دشت سارق قطع کرده نمی شود .

(۷) لاقطع علی النباش :

ترجمه:

دست کفن دزد بریده نمی شود .

(۸) اذا إوعی السارق ان العین المسروقة ملکه ماشهد الشاهدان بالسرقة :

ترجمه :

یعنی یك دزد دزدی نمود ، دو شاهد زور ،

گواهی دادند که این مال ازین شخص (سارق) است . سارق نیز ادعا نمود که این مال از من است دست آن بریده نمی شود .

حضرت والا جناب عالی! کدام دزد و راهزن است که بخاطر نجات دشت خود از قطع شان چنین ادعائی را نه نماید و به چنین حیله و نیرنگ متوسل نشود .

(ظ) مسئلۀ چیز هبه شده :

ارشاد خیر الوری صلی الله علیه وسلم :

عن ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم العائد فی هبة کا الکلب یعود فی قیئه (بخاری شریف)

ترجمه:

از ابن عباس روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود راپس گیرندۀ هبه خود « یعنی کسی چیزی را به کسی دیگری بخشیده باشد دوباره از آن بگیرد مانند سگی است که قی میکند وقی خود را دوباره می خورد »

اختلاف فقه:

اذا وهب هبته لاجنبی فله الرجوع فیها « هدایه کتاب الهبته »

ترجمه:

هرگاه انسان به کسی چیزی را بطور هبه و بخشش بدهد ـ شخص هبه کننده در واپس گرفتن آن چیز اختیار دارد ، یعنی می تواند شی موهبه را از موهوب بگیرد .

برادران احناف ! غور نمائید ، رسول الله صلی الله علیه وسلم از دوباره گرفتن چیزی موهبه منع نموده اند و مثال آنرا (دوباره گرفتن شی موهوبه را) در قباحت بقی سگ و دوباره خوردن آن داده اند اما درفقه واپس گرفتن آنرا اختیار داده است . تا اینجا من روی مسایل فقهی یك فرقۀ خوص و یك مکتبۀ فکر « احناف »مختصرا بحث نمودم . به همین طور اگر مسایل فقهی تمام مذاهب مورد بحث و بررسی قرار گیرد ، بدون شك مثنوی چند مشتمل به هزاران صفحات خواهد گردید . در عین حال مقام حیرت و تعجب اینجا است که دراین دور اختناق وبی دینی و مملؤ از فتنه و فساد ، هر فرقه و هر گروه مدعی صداقت و حقانیت خود است ، گروه ناجی و کامیاب و ثابت برحق خود را می داند ، مگر در مسیر حق و صداقت گامزن فقط همان گروه شده می تواند که بر صداقت و راستی آن ختم تاجدار نبوت ثبت باشد ، .

آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود :

یهود و نصاری به هفتاد ودو (۷۲) گروه تقسیم شدند وامت من به (۷۳) فرقه تقسیم خواهدند ، علاوه از یکی باقی همگی روانۀ جهنم خواهند شد . صحابۀ کرام درمورد آن فرقۀ ناجیه از رسول الله صلی الله علیه وسلم دریافت نمودند ، آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود : « ماأنا علیه وأصحابی » .

۳۰ ←

د اقتدار کرسی

د اقتدار کرسی

ای د اقتدار کرسی (!)
تاچه څوك خوړلی دی
بیا کله راغلی دی؟
ستا مینه کښې څوك چه اخته شوی رسوا شوی دی
ستا په مینه مست مستان په بادو هوا شوی دی
ستا په مینه ړوب دی له هر څه نه جدا شوی دی
هم له خپلی خاوری هم له دین نه جلاشوی دی
خو ،ای د اقتدار کرسی (!)
تاچه پړسولی دی
بیا دی په تش بادو روان کړی دی
بیا کله راغلی دی؟
ستا نشه چه هر چا په یوځلی آزمایلی ده
یوځل آزمایلو سره پوهه ترینه تللی ده
مینه خدائی ئی له تقوی سره بایللی ده
صرف یوه سیاسی تقیه ئی ځان سره ساتلی ده

نو ،ای د اقتدار کرسی «!»
تاچه آزمایلی دی
ماهم ښه لیدلی دی
(چه) بیا کله راغلی دی؟
ته هم د فرعون دزمانی یو زوړ یادګارئی
ستا په نیلی سپورو ته بیشکه مددګارئی
کله دبرحقو مستضعفو طرفدارئی؟
بیاهم په خپل غیږ کښی ته پالونکی دغدار ئی
نو ،ای د اقتدار کرسی «!»
ځان ته دی کتلی دی
تاچه څوك نتلی دی
بیا کله راغلی دی؟
ګوره دبی وسو مستضعفو آزار ښه نه دی
داد دغل کارو اومکارو بازار ښه نه دی
دا دور به تیرشی داد مستو روزګار ښه نه دی
بیا به لاس مړی وار به دی تیروی تلوار ښه نه دی
نو ،ای داقتدار کرسی «!»
ګوره مالیدلی دی
تاچه څوك خوړلی دی
بیا کله راغلی دی؟

آرامش دلها

دست تبه کاران در نقش طغیانها   در راه بربادی دادند پیمانها
درهم زد استخدام از بسکه بنیانها   شد درس آزادی سرمشق انسانها

الله اکبر الله اکبر الحمد لله
شد نام پاک اقدسش آرامش دلها

ناموس انسانها پامال قدرتهاست   مشت ستم دایم در رأس ملتهاست
طاغوت و هر دجال مجنون شوکتهاست   افتیده در هر سو لاش رعیتهاست

الله اکبر الله اکبر الحمد لله
شد نام پاک اقدسش آرامش دلها

آثار استبداد از هر نوا خیزید   ابر ستم پیما دور فضا پیچید
در دشت اسلامی قوغ بلا ریزید   فریاد آزادی زان پس بپا خیزید

الله اکبر الله اکبر الحمد لله
شد نام پاک اقدسش آرامش دلها

ما از درون قوغهٔ آتش بپا خیزیم   تا بر علیه قدرت هر ناخدا خیزیم
اندر پی ناموس و دین ملت به ملتها   دستا به دست چون جزبه آهن ربا خیزیم

الله اکبر الله اکبر الحمد لله
شد نام پاک اقدسش آرامش دلها

تاکی کلید قفل ملتها دیگر بسته است تاکی بزیر یوغ استعمار دربسته است
تاکی اسیر ذلت و محکوم هر تأثیر تاکی اداره نظم مان هر بی پدر کوده است

الله اکبر الله اکبر الحمد لله
شد نام پاک اقدسش آرامش دلها

ما زاده نسل بشر ما خود مسلمانیم شاگرد دین و ملت و آئین قرآنیم
تا قطره ای خون در رمق ماست روانیم کی در ره دین خسته وپژ مرده و غمگینم

الله اکبر الله اکبر الحمد لله
شد نام پاک اقدسش آرامش دلها

ما رهبرو فرمانده قرآنیان داریم ما الشکر فولادی ایمانیان داریم
زان پیشرو ما از خدا صد امتحان داریم خوف و خطر از خندق آتش فشان داریم

الله اکبر الله اکبر الحمد لله
شد نام پاک اقدسش آرامش دلها

ما مژدهٔ «نصر من الله» در نظر داریم ما از خدا امید عفوه در گذر داریم
ما لحظه لحظه از خدا انا فتحنا را چون آفتاب اوراطلب اندر سحر داریم

الله اکبر الله اکبر الحمد لله
شد نام پاک اقدسش آرامش دلها

ای عالم اسلام ما از هر کجا خیزید از روس و چین و جرمن و اسپانیا خیزید
ای اندك اندك ملت گم زیر استعمار از هند و قدس و خاور و از افریقا خیزید

الله اکبر الله اکبر الحمد لله
شد نام پاك اقدسش آرامش دلها

از امریکه واسترالیا و یورپ والمانی　　بر نهضت تحریك اسلامی بپاخیزید
تاکی غلام حلقه برگوش و اسیر هرجا　　نی نی علیه جمله قدرتها بپاخیزید

الله اکبر الله اکبر الحمد لله
شد نام پاك اقدسش آرامش دلها

ما برسلاح جذبه و نیروی ایمانی　　با جمله ترك و تاجك و پشتو وافغانی
با سنی وکل شیعه با عام و خاص هر سو　　سرتاسر ملت بپاشد جنگ قرآنی

الله اکبر الله اکبر الحمد لله
شد نام پاك اقدسش آرامش دلها

هر سو جهاد و جبهه و جنگ روان از ماست　　شکر خدا این نهضت پر اطمینان از ماست
از توده و انبوه نبود ترس و بیم هرگز　　زیرا قوی همکار و یار مهربان از ماست

الله اکبر الله اکبر الحمد لله
شد نام پاك اقدسش آرامش دلها

ما نقش جنگ از پرتو حکم خدا سازیم　　ما جبهه بر اخلاق قرآن آشنا سازیم
تا تاخت و تاز و جرئت دشمن زپا اندازیم　　تا دسته دسته لشکر دشمن تباه سازیم

الله اکبر الله اکبر الحمد لله
شد نام پاك اقدسش آرامش دلها

نی نی نسل آینداز شما امید ما این است　　منظور تان از زندگی اعلام این دین است
باالله من سیحون را جز این هدف هرگز　　که دشمن سرسخت مان هر کفر و بی دین است

دغازي کور

دغـازي کـوروی مدام د جنګ ډګر کښي
همیشه ناست وی دښمن ته په سنګر کښی

لـه مـرګی سـره په زور پـهلوانـی کړی
د دنـیا سـود او زیـان نه ساتی نظر کښی

وائـی څـکه دسنـګر مـابین کښی اوسم
چه کافر ته سره ګولی ورکړم څیګر کښی

یـا بـه دلـته کښی شهید یا به کامران شم
دا دوه کاره مـی لـیك شـوی په فتر کښی

سـر او مـال بـه شـکرانه د آزادی کـړه
غـلامی د پـردو نه کړم خپل کشور کښی

غـواړم دا چـه نـور څما در ته محتاج وی
نـه چه زه پروت یم محتاج د بل په در کښی

ای «منیبه» کامـیابی که چیرتـه ګـوری
ده موجوده په ایمان غیرت خنجر کښی

د غـازی د مـرګ نیـته د جنـګ محاذ دی
بزدلانو غوندی نه مری خپل بستر کښی

ترجمه : گروه جنتی همان است که به نقش قدم من و صحابه ام روان باشند .

خوانند گان عزیز :

راه و مسیریکه رسول الله صلی الله علیه وسلم بخاطر نجات و سعادت تعین نموده بود ، باتأسف باید گفت که بعد از یك مدت (زمانهٔ خیرالقرون) متروك قرار گرفت ، و مردم برای خود راه های دیگری « حنفیت ، مالکیت شافعیت و حنبلیت را انتخاب نمودند و در آن رفتند و هنوز دارند می روند و زمانی هم فکر نه نمودند که هنکا میکه رسول الله صلی الله علیه وسلم راه و رسم موفقیت را تر سیم نموده بود آیا خبری ازین مذاهب چهار گانه بود ؟ (ظاهر است که نبود)

برادران عزیز و گرامی!

غور نمائید ! عملیکه بعد از چهار صد سال « تقلید ائمه » بوجود آمد . چگونه عمل دینی و اسلامی شده می تواند ، و چه قسم راه نجات و کامیابی متصور می شود . در صورتیکه در دوران حیات طیبهٔ آنحضرت صلی الله علیه وسلم دین مکمل شده بود . و آنحضرت صلی الله علیه وسلم به تقلید و دنباله روی کسی حکم نه نمودند ، نه تنها حکم نه نمودند بلکه از آن به سختی منع نیز نمودند .

پس ای برادران عزیز و کسانیکه توفیق خواندن این مضمون را داده شده خود بدانید وبه دیگران بدانانید که نصبالعین اهل حدیث تقلید کدام شخص و فرد خاصی نیست ، بلکه اتباع سنت و دعوت بسوی صراط مستقیم و مشیر منتخبه الهی است ، دعوت بسوی راه وروش است که نشاندهی آنرا رسول اکرم صلی الله علیه وسلم در ارشاد گرامی خود چنین می نماید« ترکت فیکم أمرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتاب الله وسنت رسوله » بنیاد مذاهب مقلدین په اساس اجهتاد ورائی مجتهدین استوار است که خالی از خطا نیست زیرا صدور خطا از مجتهد امر یست ممکن الوقوع .

و بنیاد و شالودهٔ اهلحدیث با ساس اجتهاد کدام مجتهد نیست بلکه فقط و فقط بر مبنائی قرآن(کلام خدا) و سنت محمد مصطفی سید الانبیا صلی الله علیه وسلم می باشد که خطا و اشتباه را در آن راهی نیست .

اهلحدیث صرف و صرف محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم را به عنوان امام و پیشوائی خود ولائق اتباع و پیروی می داند که از هر نوعه خطا واشتباه در أمر دین محفوظ و مصؤن است .

اهلحدیث تابع و منقاد وحی الهی است و حییکه به پیروی وانقیاد آن خداوند کاروان انسانی را امر نموده است .

بمصطفی برسان خویش را که دین همه اوست
اگر با و نه رسیدی تمام بو لهبی است

إدامه دارد .

د نشنلیزم اسلامی تعبیر

د اسلام پیغمبر او د بشریت لارښود محمد صلی الله علیه وسلم په خپل دی پیامبرانه ارشاد سره چه:

«ایها الناس کلکم من آدم و آدم من تراب لافخر للانساب لافخر للعربی علی العجمی ولا للعجمی علی العربی. ان اکرمکم عندالله اتقاکم».

د بشری پرگنو ترمنځ د تساند او وروړگلوی نوی معیار او ملاك و ټاکه او د نړی ولسونو ته ئی دا ښکاره کړه چه الله او د هغه رسول ټول هغه و همی اساسات او د جاهلیت د زمانی هغه ټول حسی او مادی قیود چه د بیلا بیلو میلتونو د بقا او تداوم ماڼی ورباندی آبادی وی له بیخه وویستل. او درنگ اونسل، وطن او ژبی، اقتصاد او سیاست ټول نامعقول امتیازات او تفرقی چه انسان د خپل جهالت او ناپوهی په وجه انسانیت ورباندی تقسیم کړی ؤ، له منځه لاړل او ټول أنسانیت د انسانیت له حیثه مساوی او یوشان شو.

الله او دهغه رسول د دغه ستر انقلاب په راوستلو سره یو نوی ناسیونالیزم چه په منطقی اساساتو ولاړؤ رامنځته کړ ـ سره له دی چه د دغه نوی ناسیونالیزم اساس هم په امتیاز او برتری ولاړ ؤ خو مادی امتیاز نه بلکه روحانی او معنوی امتیازؤ. دغه ناسیونالیزم، انسان ته طبیعی صداقت چه «اسلام» نومیږی وربخښی. ټول بشریت د الله تعالی اطاعت او بندگی، د نفس طهارت او تزکیی او نیك عمل او پرهیز گاری ته رابولی او بیا ورته لارښائی چه که هر څوك دغه دعوت ومنی، نو د دعوت منونکی ټول د یو ملت غړی شمیرل کیږی او هغوی چه له دعوت څخه منکر شول او ردئی کړله بیل ملت څخه شمیرل کیږی. په دی ډول اسلام د یو

ملت نوم شو او ټول افراد ئې د امت په نوم یاد شو .

وکذلك جعلنا کم امة وسطا .

او مقابل لوری ئې د کفر او گمراهی قوم دی او متابعین ئې که څه هم په خپل منځ کې څه ذات البینی اختلافات هم ولری بیاهم یوه ډله او یو ملت شمیرل کیږی :

«والله لایهدی القوم الکفرین»

د دغو ملیتونو ترمنځ د امتیاز او تفوق اساس ، نسل او نسب نه بلکه اعتقاد او عمل دی . د امکان نه لیری خبره نه ده چه د پلار د وه زا من د کفر او اسلام په بنااله یو بل څخه جدا شی او دوه پردی او ناآشنا کسان په اسلام باندی په ایمان راوړلو سره دیو ملت غړی او سره ورونړه شی .

دسیمی او هیواد اختلاف هم د دی ملیتونو ترمنځ د امتیاز او تفوق وجه نشی جوړیدای . دلته امتیاز د حق او باطل په بنادی او د حق او باطل لپاره سیمه او پوله نشته . حق هر چیرته حق دی او باطل هر چیری باطل دی . ډیر به داسی ولیدل شی چه دیو ښار کلی او یا یو کور دوه تنه اوسیدونکی د اسلام او کفر د اختلاف په وجه له یو بل څخه جدا او دیو بل دښمنان شی ، خو برعکس د افریقا یو سړی چه په اسلام مشرف شی ، کولی شی د خپلی دوستی او ور ورگلوی اړیکی د آسیاله یو اوسیدونکی سره ټینگی کړی .

د رنگ اختلاف هم دلته د ملی افتراق باعث نه کرځی . دلته د مخ رنگ د اعتبارو نه دی بلکه د الله رنگ اعتبار او ارزښت لری او هغه تر ټولو ښه رنگ دی .

صبغة الله ومن احسن من الله صبغة .

دا امکان شته چه یو تور نژ ادی او یو سپین نژادی د اسلام په اعتبار د یو ملت غړی شی خو برعکس دوه سپین نژادی د کفر او اسلام د اختلاف په وجه سره جلاشی . یو مسلمان شی او بل د کفر لار اختیار کړی .

دژبی امتیاز هم په اسلام کی د اختلاف موجبات نشی برابر ولی . دلته د خولی ژبه معتبره نه ده بلکه د زړه ژبه د مدار او اعتبار لرونکی ده او همدا د زړه ژبه ده چه په ټوله دنیا کی خبری کوی او خلك ورباندی پوهیږی . په همدی اعتبار کیدای شی چه یو عربی او یو اروپائی سره ملگری شی او دوه عربی ژبی سره جداشی .

په دی ډول هغه دایره چه اسلام دنیشنلیزم لپاره ترمیم کړی ، کومه مادی او حسی دایره نه ده بلکه دا یو ډول خاصه عقلی دایره ده چه دیو کور دوه او سیدونکی پکی جلا کیدی شی او دوه تنه ناپیژندلی کسان د شرق او غرب په لری والی هم پکی داخلیدی شی . د دایری محیط د

لااله الا الله محمد رسول الله کلمه ده او دا کلمه د دوستی او دښمنی معیار او ملاك هم دی . په دغه کلمه باندی اقرار د افرادو او جو امعو ترمنځ د تجمع او وروږگلوی باعث گرځی او انکار تری د جدا کیدو ، دښمنی او تشتت او پرگندگی اسباب برابر وی . هغه کسان ، کورنی او ملیتونه چه د دغی کلمی څخه د انکار په نتیجه کی جلا شوی وی ، بیانو وینه ، خاوره ، ژبه ، رنگ ، پوړی او حکومت ئی سره نشی متحد کولی . او هغه ملتونه او پرگنی چه د دغی کلمی په سر سره یو ځای شوی او متحد شوی دی ، بیانو غرونه او سیندونه ، د ژبی نسل او رنگ اختلاف او د دینار او درهم مسایل د هغوی د محبت او اخوت مزی نشی شلولی . هر مسلمان که په هر هیواد کی چه وی او په هر نژاد او قومیت پوری چه تعلق ولری په دغه کلمه باندی د اقرار او عمل نه وروسته د اسلامی جامعی غړی دی ، د اسلامی حکومت تبعه دی ، د اسلام سپاهی دی چه باید د خپلو ټولو حقوقو څخه گټه واخلی . په اسلامی شریعت کی داسی کومه ماده څوك نشی په گوته کولی چه دهغی په اساس دژبی او نسل ، قوم اوهیواد په اعتبار یو مسلمان په بل مسلمان باندی برتری او تفوق لری .

د (۷) مخ پاتی

رسیدن به عرش

صلی الله علیه وسلم پیش رفته است .

شیخ ابن العمادی در شذوات الذهب جلد ۸ ص ۴۰۸ درباره امام نجم الدین گفته یکی از حنفا رانقل کرده می نویسد :

حافظ عصره و محدث مصره وحید د هره الرحلة امام والعمدة الهمام اجتمعت علی صدرته فی العلم علماء البلاد و اتفقت علی ترجیحه بعلم الاسناد اهـ مختصراً

ترجمه : اویگانه حافظ عصرش ، محدث شهرش ویگانه امام آن زمان و سردار مورد اعتماد بود ، دانشمندان همه بلاد برمحور زعامتش گرد آمده و بر ترجیح مقامش و دسترسش در علم الاسناد متفق الرأی بودند .

يولنډ داستان

دالماس واميل

په دی ګڼه کی غواړو هغه داستان خپلو ګرانو لوستونکو ته وړاندی کړو چه د اسلام د زيات شمير صحابه وُ کرامو نه په متواتر ډول را نقل شوی او د اسلامی عدالت هغه نمونه ده چه د کاغذ په مخ نه ، دلافو او تش منځی وعدو په هنداره کی نه، بلکه د عمل په ډګر کی ځرګنده شوی چه تر نن ورځی پوری ورباندی مسلمانان وياړی او د راتلونکو نسلونو د پاره به هم دعبرت او انتباه درس وی .

هغه شپه دماسختن آذان د نورو شپو په خلاف د وخته وويل شو او دا داسی علامه وه چه کومه لويه او مهمه واقعه رامنځ ته شوی او د مسلمانانو خليفه غواړی ددغی واقعی په باب صلاح مشوره وکړی .

د مدينی ټول خلك او داسلام ټول بزرګواران د دغی نښانی سره آشنا وو او د آذان په اوريدو سره ډله ډله د جومات په خوا روان شول ار په ډيره تيزۍ سره د مدينی له کوڅو تيريدل . چا لا د شپی ډوډۍ خوړلی او چا لا نه وه خوړلی او څوك لا د دسترخوان له سره پور ته کيدل او د خدای د کور لاره ئی نيوله .

له راويانو نه يو تن کيسه کو ی،وائی کله چو جومات ته ننوتو ، د خلکو ګڼه ګوڼه زياته وه، خو يو کامل سکوت په ټولو باندی حکمفرماؤ .

د مسلمانانو امير عمر ابن خطاب محراب ته نږدی غلی او چپ ناست ؤ ، خو په تندی کی ئی د پريشانی او خفګان آثار له ورايه

بریښیدل . مونږ د خلیفه له غمجنی څیری نه پوه شو چه کومه مهمه واقعه پیښه شویده .

مسلمانان ډلی ډلی جومات ته راننوتل او هر یوه به غلی غلی او آرام په یو صف کی د ځان له پاره ځای پیدا کاوه او ددی منتظر به ؤ چه څه وخت به په اصل مطلب پوه شی چه د څه لپاره راغوښتل شوی دی . چا سره به دا فکر ؤ چه گوندی په روم او ایران کی کومه پیښه شوی ده ، چا به دا فکر کاوه چه خدای دی نه کړی د اسلام سپاهیانو د جهاد په کوم سنگر کی د کفارو له لاسه ماتی خوړلی او په دی ډول د خلکو په فکر کی ډول ډول اندیښنی گرځیدی راگرځیدی .

په هر حال د لمانځه تکبیر وویل شو ، ټول د لمانځه لپاره ودریدو او همغسی د فکرونو او اندیښنو په دنیا کی د الله تعالی په وړاندی ښکته کیدو او پورته کیدو .

لمونځ خلاص شو ، امیرالمومنین دعا وکړه او د دعانه وروسته منبر ته وخوت ، مسلمانانو ته مخا مخ ودرید ، خلکو د هغه شونډو ته سترگی نیولی وی چه څه به وائی . د عمر شونډو د تأثر او پریشانی نه پا تری نیولی وؤ ، عمر (رض) مخکی له دی چه په خبرو پیل وکړی ، جیب ته ئی لاس کړ او د الماسو یو ښکلی امیل ئی له جیبه راوویست خلکو ته ئی مخ واړاوه او وئی ویل : ای خلکو زما ماندینی ام کلثوم یوه ډیره معمولی تحفه د روم د امپراطور د هرقل ماندینی ته لیږلی وه . د روم ملکی د دغی تحفی په بدل کی د الماسو دا امیل زما میرمن ته رالیږلی دی . تاسو می راوغوښتئ تر څو مشروه وکړو چه له دی امیل نه باید څه استفاده وشی؟ یو تن غږ وکړ : ای عمره ، ستا ماندینی د روم ملکی ته تحفه ولیږله چه کوم ناوړه کار نه دی او دا ډالی د هماغی تحفی په بدل هغی ته را استول شویده ، دا د تحفی په مقابل کی تحفه ده او ستا د میرمنی حق دی . بل صحابی غږ وکړ ، هو رښتیاده . د روم امپراتوریو مستقل بادشاه دی او ستا د لاس لاندی نه دی چه د هغه د میرمنی تحفه ستا د پاره د رشوت معنی ولری . دا د یوی آزادی ښځی تحفه ده بلی آزادی میرمنی ته . ای عمره ، دا هدیه ستا د میرمنی حق دی .

په مجلس کی هیجان او چیغی گډی شوی او له هر گوټ نه آواز راپورته کیده چه هو رښتیا ده . دا د عمر د کور حق دی .

پاتی په (٤٠) مخ کښی

مدینی ته د محمد صلی الله علیه وسلم هجرت

د الله تعالی د برحق رسول صلی الله علیه وسلم په رهبری اسلامی تحریك ورځ په ورځ د خپلی ارتقا او پرمختګ پړاؤنه وهل او د حق دعوت د نیکمرغو انسانانو له خوا ورته لبیك ویل کیده. بل خوا د مکی د مشرکینو بدنونه د اسلامی نهضت د دغه پرله پسی ارتقا او تعالی په وجه لړمی لړمی کیدل، په مسلمانانو باندی ظلم او تعدی، د اسلامی تحریك په خلاف زهرجن پروپاګندونه او دسیسی الو توطیی هریو په خپل وار ناکام او رسوا شوی ؤ او اوس داسی وخت را رسیدلی ؤ چه د مشرکینو او کفارو د ظلم او وحشت نوی خونړی ډرامه د مکی په ستیج باندی د ښودلو لپاره تیاره شوی او له هری خوا د اسلام او د هغه د حامیانو په خلاف د غیض او غضب توری له تیکونه را ایستل شوی وی. همدغه وخت ؤ چه د عالمینو ساتونکی او پالونکی الله تعالی مسلمانان مدینی ته په هجرت کولو موظف کړل. د هجرت نه وړاندی محمد صلی الله علیه وسلم خوب ولید چه د هجرت ځای یو سمسور باغ اوښکلی مقام دی. دا ګومان کیده چه دا ځای به د یمامه ښاروی مګر هغه د مدینی ښار و ټاکل شو.

کله چه قریشو ته معلومه شوه چه مدینی ته د مسلمانانو د هجرت لړی ورځ په ورځ اوږدیږی او هلته ئی زور او طاقت زیاتیږی او د اسلام لمن خپریږی نو داضطراب او تشویش نه په ډك حالت کی په دارالندوه کی چه د دوی د سلا او مشوری او جرګی مرکز ؤ، سره راټول شول او جرګه ئی وکړه چه د ټولو قبایلو مشرانو او روساو یعنی عتبه، ابوسفیان، جبیربن مطعم، نضر بن حارث بن کلده، ابو البنحتری، ابوجهل، امیه بن خلف اونورو ګډون کړی ؤ. دغونډی په ترڅ کی د اسلام او مسلمان د تضعیف لپاره بیلا بیل نظریات او تجاویز وړاندی شول. چاوویل چه «د محمد په پښو او لاسونو کی دی ځنځیرونه واچول شی او په یوه خونه کی دی بندی کړی شی.» بل وویل: «له وطنه دی وشړل شی» خو ابو جهل وویل، دایو کارهم زمونږ په زخمونو پټی نشی ایښودی اصلی چاره داده چه

له هری قبیلی څخه دی یو یو تن انتخاب کړی شی او دوی ټول دی په یو ځل د تورو په گوزارونو د محمد فیصله وکړی. په دی صورت کی به دده د خون بیه په ټولو قبیلو وویشی شی او د هاشم کورنی به یوازی د دی ټولو قبایلو سره جگړی او دښمنی ته زړه ښه نه کړی. د ابو جهل په دی تجویز ټولو سلا یوه کړه او سمدستی د محمد صلی الله علیه وسلم له کوره را چاپیر شول. په عربو کی د چا کورته ننوتل بدکار گڼل کیده نو ځکه ټول د باندی په انتظار و دریدل چه کله دی د کورنه راو وزی دوی به ئی کار فیصله کړی.

قریشو د پیغمبر علیه السلام سره د دومره سختی دښمنی او مخالفت سره سره بیا هم د هغه په دیانت او صداقت ښه معترف وو او هر چا به خپل مال متاع د ده حضور ته راوړل او د امانت به ډول به ئی ورسره ایښودل. په دغه وخت کی هم د محمد صلی الله علیه وسلم سره د خلکو ډیر امانتونه جمع شوی وو خو کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د قریشو د ناوړه نیت نه خبر شو، نو حضرت علی رضی الله عنه ئی راوغوښت او ورته ئی وویل: ما ته د هجرت حکم شوی، زه به نن مدینی ته روانیږم ـ ته زما په کټ او بستره کی څملـه او زما څادر واغونده ـ بیده شه، سهار چه د خوب نه راویښ شوی نو خلکو ته د هغوی ټول امانتونه و سپاره. دا یوه خطرناکه لحظه وه او حضرت علی کرم الله وجهه ته دا خبره معلومه شوی وه چه قریشو د محمد صلی الله علیه وسلم د وژلو لپاره ټینگ تصمیم نیولی دی اونن د محمد صلی الله علیه وسلم د خوب بستره یوه قتلگاه وه او پکی پری و تل د خپل ژوند نه د لاس و ینځلو مترادف دی، خو د خیبر د فاتح د پاره دغه تقل گاه د گلانو یو ښکلی فرش ؤ.

د هجرت نه دوه ورځی وړاندی رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت ابوبکر صدیق کورته لاړ او هغه ئی د خپل هجرت په باب د الهی احکامو نه خبر کړ. ابوبکر صدیق ورته وویل ما به هم په خپله ملگرتیا سرلوړی کړی؟ محمد صلی الله علیه وسلم وویل «هو».

د دوه دری ورځو خوارکه او ناری ئی د توښی په لوښی کی واچول او د هجرت قصدئی وکړ.

کافرانو د پیغمبر علیه السلام کور محاصره کړی ؤ، خو چه شپه پخه شوه نو الله تعالی په دوی باندی د بی خبری او غفلت خوب را ووست محمد علیه السلام دوی ویده پری ښودل او د باندی راووت چه کعبه ئی ولیده نو وئی ویل: ای مکی! ته ماته د ټولی دنیا نه گرانه او خوږه ئی، خو ستا بچی ما دلته او سیدو ته نه پریږدی. د ابوبکر صدیق سره وړاندی داخبره

فیصله شوی وه. دوی دواړه لومړی د جبل ثور په غار کی پټ شول. دا غار اوس هم شته او خلك ئی لیدلو له ورځی.

د حضرت ابوبکر مرئی به دشپی ډیر ناوخته وزی د ځرنه راتستنولی او محمد صلی الله علیه وسلم او ابوبکر صدیق به ددغو وزو شیدی څښلی. د ابوبکر صدیق لور «اسمأ» به په خپل کور کی د دوی د پاره ډوډی پخوله او ماښام به ئی غارته وروړله. په دی ترتیب دوی په غار کی دری شپی تیری کړی.

بل طرفته چه قریشو سهار سترگی و غړولی او د محمد صلی الله علیه وسلم په ځای ئی حضرت علی رضی الله عنه ولید، د قهرجنو مارانو په شان تاو راتاو شول، حضرت علی رضی الله عنه ئی ونیو او حرم ته ئی بوت، خودلږ ساعت بند ساتلو نه پس ئی پری ښود.

او په خپله ورکه پسی لی په لی په سرشول. د جبل ثور د غار خولی ته ورسیدل. ابوبکر صدیق چه د دوی دپښو ښکالو واوریده نو خپه اوغمجن شو او پیغمبر علیه السلام ته ئی عرض وکړ چه دښمنان دومره رانږدی شوی دی چه که ښکته خپلو پښو ته وگوری نو هم مونږ به ووینی. محمد صلی الله علیه وسلم ورته وویل:

لاتحزن ان الله معنا

مه ویریږه خدای زمونږ سره دی.

په هر حال دوی په ځلورمه ورځ له غار نه ووتل، دلاری د رهنمائی له پاره ورته عبدالله بن اریقط که څه هم کافر ؤ مگر د دوی د اعتماد وړ او په لاره ډیر بلدؤ و ټاکل شو.

قریشو په دغه وخت کی اعلان کړی ؤ چه که چا محمد او ابوبکر ونیول او مونږ ته ئی راوستل نو دیو خون بیه (سل اوښان) به ورته په انعام کی ورکړل شی. کله چه سراقه بن جعشم دغه خبر واورید نو د انعام دگټلو په نیت روان شو. دوی دواړه ئی دتگ په حال کی ولیدل خپل آس ئی پسی ؤ ځغلاوه او د دوی خوا ته ئی ځان ورساوه. په دغه وخت کی د سراقه آس تیندك و خوړ او راپری وت. سراقه د فال غشی را واخستل چه په دوی حمله وکړی او که نه . دده په فال کی را ووتل چه «نه» خو د سلو اوښانو انعام دومره معمولی شی نه ؤ چه د هغه په مقابل کی دی د فال اوغشی خبره و منل شی. دی بیا په آس سپورشو او مخ په وړاندی لاړ ـ داځل د ده آس ترځنگنو پوری په ځمکه کی ښخ شو ـ دی د آس نه ښکته شو او بیا ئی فال وکوت په دی وار هم هغه لومړنی منفی جواب راخوت. ددی مکرری تجربی په آساس د ده په عزم او همت کی سستی راپیدا شوه او په دی خبره ئی یقین راغی چه دا انعام گټل سخت کار دی. سراقه د دغی

تجربی نه وروسته د محمد صلی الله علیه وسلم حضور ته راغی او د قریشو د اعلان قیصه ئی ورته وکړه.

مدینی ته د دوی د تګ خبر پخوا خپور شوی ؤ ـ ټول خلك سترګی په لاره وو ـ کوچنیان به په کو څو او لارو کی ولاړ وو او په خوښی او خوشحا لیوکی به ئی د پیغمبر علیه السلام دراتګ لپاره سندری او اشعار زمزمه کول. د مدینی خلك به سهار وختی د ښار نه راوتل، ترغرمی پوری به ئی انتظار کاوه او بیا به آرمانجمن خپلو کورونو ته ستنیدل ـ یوه ورځ چه دستړی انتظار نه وروسته واپس کورونو ته تللی وو، یو یهودی د کلانه وکتل او د علامو نه پوه شو نو په جګ آواز ئی چیغی کړی. ای عربو! تاسی چه د چا انتظار کاوه هغه دی راغی. د دی آواز د او ریدو سره سم په ښار کی د تکبیرونو انګازی پورته شوی. انصارو په وسلو ځانونه سمیال کړل او په ډیره مینه او شوق د پیغمبر علیه السلام هر کلی ته ووتل.

د مدینی نه دری میله لیری د عالیه او قبا و دانی وه چه د انصارو ډیری کورنی پکی ابادی وی. په دوی کی ډیره ممتازه کورنی د عمرو بن عوف کورنی وه چه کلثوم بن الهدم ئی مشر او واکدار ؤ. کوم وخت چه محمد صلی الله علیه وسلم دغه ځای ته راورسید نو ټولی کورنی له ډیری خوشحالی نه د الله اکبر ناری پورته کړی او د بشریت د لاربشود د میلمستیا افتخارئی په برخه شو.

په دغه ځای کی د محمد صلی الله علیه وسلم لومړی کار دیو جومات ودانول وو ـ د کلثوم په یوه ټوټه شاړه ځمکه کی چه خلکو به پکی کجو ری وچولی محمد صلی الله علیه وسلم په خپل مبارك لاس د جومات بنسټ کیښود دا هغه جومات دی چه قرآن مجید ئی په دی ډول ستاینه کړی ده:

لمسجد اسس علی التقوی من اول یوم احق ان تقوم فیه فیه رجال یحبون ان یتنظهروا والله یحب المتطهرین. (توبه)

یعنی هغه جومات چه له لومړی ورځی څخه ئی بنسټ په پرهیزګاری ایښودل شوی دی او د دی خبری ډیر حق لری چه تاسی پکی ودریږی، په هغه کی داسی خلك دی چه صفائی ئی ډیره خوښه ده او خدای صاف اوسیدونکی خوښوی.

محمد صلی الله علیه وسلم د جومات په ودانو لو کی له مزدورانو سره پخپله کار کاوه او درنی درنی تیږی به ئی راوړلی.

د ځوارلس ورځو د تیرولو نه پس پیغمبر صلی الله علیه وسلم د جمعی په ورځ د ښار خوا ته روان شو په لار کی د بنی سالم په کو څه کی د لمانځه وخت شو. د جمعی لمونځ ئی په دغه

ځای کی ادأ کړ ـ د لمانځه نه وړاندی ئی خطبه ولوستله. دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د جمعی لومړی لمونځ او دلمانځه لومړی خطبه وه. کله چه خلك د د وی له راتگ نه خبریدل، ډلی ډلی به په ډیره خوشحالی د هر کلی لپاره راز غلیدل. د قبأ نه ترمدینی پوری د لاری په دواړو غاړ و د نبوت د مینانو صفونه ولاړ وو. په لاره کی به دانصارو کوروته راتلل ـ هره قبیله به ورته وړاندی کیدله او دا عرض به ئی کاوه چه دا کور ـ دا مال او دا سر او ځان ستا نه قربان دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم به د دوی د نیکو احساساتو مننه کوله او دعا به ئی ورته کوله.

په کوم ځای کی چه نن نبوی مسجد دی هلته جوخت ورسره د حضرت ابو ایوب انصاری کورؤ ـ د پیغمبر سپرلی چه دغه ځایٔ ته ورسیده نو په خلکو کی یو اضطراب پیدا شو او هر چا دا کوشش کاوه چه د هغه د خدمت افتخار و گټی. بیا د خلکو د تسلی لپاره خسنی واچول شو. په نتیجه کی دا افتخار د حضرت ابو ایوب په برخه شو.

محمد صلی الله علیه وسلم د ابو ایوب په کاله کی اوه میاشتی تیری کړی او چه کله د نبوی مسجد په شاو خوا کی حجری او کوچگی جوړی شوی نو بیا همدغو حجروته لاړ.

د (٣٥) مخ پاتی

دالماسوامیل

خو عمر لاس اوچت کړ او خلکو ته ئی د سکوت امر وکړ وئی ویل: خو دا ډالی د خلافت رسمی استازی راوړی ده. دا تحفه د عمر د میرمنی له پاره نه ده رالیږل شوی بلکه د خلیفة المسلمین د میرمنی لپاره ټاکل شوی ده. دا هدیه ستاسو په اعتبار رالیږل شوی او په تاسو پوری اړه لری. که زه ستاسو خلیفه نه وی، هیڅکله به زما میرمنی ته د روم ملکی ډالی نه وی رالیږلی. نو ای خلکو دا ستاسو مال دی. دا د اسلامی بیت المال حق دی چه زما تصرف به پکی لویٔ خیانت وی او د مسلمانانو رهبر ته پکار نه ده چه د مسلمانانو مال دځان حق وگڼی او هغه په خپله گټه استعمال کړی.

عمر (رض) لا هماغسی په منبر ولاړ ؤ چه د بیت المال مامور ئی راوغوښت او د الماسو امیل ئی ورته وسپاره.

« فاعتبروا یا اولی الابصار.»

حضرت علی کرم الله وجهه

د اسلامی تاریخ دغه ځلانده ځیره چه د مقدس جهاد د تود او خونړی سنگر دیکه تاز پهلوان په نوم هم یا دیږی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره ابو طالب زوی دی. د کوچنی والی له زمانی څخه د نبوت په انسانیت جوړ وونکی پالنځی کی روزل شوی او د پیغمبر علیه السلام تعلیماتو او هدایا وئی دزړه په گوټونو کی ځای نیولی ؤ.

مورئی د هاشمی خاندان لومړنی میرمن وه چه په اسلام مشرفه شوه، هجرت ئی وکړ او مدینی ته لاړه. علی رضی الله عنه به مکه کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کی اوسیده. دلسویو لسو کالو په عمر به ؤ چه یوه ورځ کور ته راننوت، گوری چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او سیده خدیجه الکبری په لمانځه ولاړ دی، د دوی د رکوع او سجود منظرئی په خپلو سترگو ولید، د قرآن عظیم الشان تلاوت ئی واورید او د تعجب او حیرانتیا په یولوی سمندر ورگړشو. کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم له لمانځه نه فارغ شو علی رضی الله عنه تری پوښتنه وکړه تاسو چاته سجده کوله؟ پیغمبر ورته و فرمایل: ای علی. دا سجده د هغه الهی ذات په حضور کی وه چه ماته ئی نبوت را په برخه کړی او حکم ئی را ته کړی ترڅو خلك د الله لوری ته را و بولم ـ ته هم د «الله وحده لاشریك له» عبادت کوه او زما په نبوت ایمان راوړه. بیا ئی ورته د قرآن مبارك څو آیتونه ولوستل. علی ورته وویل ځم چه په دی معامله کی می له پلار سره سلامشوره وکړم ـ لاړ او ټوله شپه ئی د اضطراب او فکر او اندیښنی په عالم کی تیره کړه. خو هغه په فطری ډول ذهین او طباع شخصیت ؤ چه د رسول الله صلی الله عیله وسلم د تربیت او پالنی فیض ئی دغه فطری جوهر لاپسی ځلاند، کړی ؤ سباله چه د پیغمبر علیه السلام حضور ته راغی نو د هاشمی کورنی دغه تنکی زلمی

وويل :

«الله تعالی زه د پلار د مشورې نه غير پيدا کړی يم نو بيا څنګه د هغه د عبادت او پرستش د پاره د پلار سره مشوره وکړم.»

حضرت علی کرم الله وجهه لومړنی کچه زلمی ؤ چه د اسلام په مقدس دين مشرف شو او څنګه چه د زړه شيشه ئی له وړاندی ځليدونکی او مجلا وه، ځکه خوئی د نبوت د لمرو ړانګی په آسانی سره د زړه خونی ته ننوتی.

هغه وخت چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د الله تعالی د دی حکم په اساس چه ورته ئی و فرمايل: «وانذر عشيرتك الاقربين» خپل خپلوان راټول کړل او د اسلام لوری ته ئی دعوت کړل. نو علی رضی الله عنه راپورته شو او په ګڼ مجلس کی ئی وويل: سره له دی چه عمومی کم دی ـ سترګی می خوږ اوپښی می کمزوری دی، خوبيا به هم ستا ملاتړينګه کړم او ملګر تيا به دی وکړم.

د اسلام په اعلان سره د بشريت لارښود د زياتو کړاوونو او تکليفونو سره مخامخ شو او ټوله مکه ورته دښمنه شوه او په پيغمبر عليه السلام ته ئی ډول ډول تکليفونه رسول خو په دغو ټولو مصائبو او کړاوونو کی علی رضی الله عنه ورسره ملګری ؤ او د ظلم او وحشت په دغه خارداره بيديا کی ئی خپل صبر او ثبات له لاسه ورنکړ.

له هجرت نه وروسته په مدينه رالنبی کی چه د اسلام د مقدس دين د پرمختګ او اعتلا لپاره او د اسلامی امت د بنياد د ټينګښت او استحکام لپاره څومره زيار او کوښښ شويدی، په ټولو کی د حضرت علی رضی الله عنه ونډه روښانه وه.

په دوهم هجری کال کی د حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د ګرانی او محبوبی لورسيده فاطمة الزهرا رضی الله عنها نکاح له علی رضی الله عنه سره وشوه.

د تبوك د جګړی په وخت رسول الله صلی الله عليه وسلم د اهل بيت د نګرانی لپاره علی رضی الله عنه په مدينه کی د خپل نايب په حيث وټاکه. د تبوك نه علاوه په نورو ټولو غزواتو او اسلامی جګړو کی علی رضی الله عنه خپل شجاعت او ميړانه ښکاره کړی او د اسلام دښمنانو ته ئی د کاری ضربو په ورکولو سره د «اسدالله» لقب ګټلی دی، د احد په غزاکی ئی بدن شپاړس ځايه ټپی شو. د خيبر د فتحی لپاره د ابوبکر صديق او عمر رضی الله عنهم په شان اکابر صحابه مقرر شول، مګر بياهم خيبر فتح نه شو، بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد و فرمايه:

«سبا به زه هغه چاته د اسلام علم ورکوم چه د

هغه په لاس به الله تعالی فتح نصیب کړی یعنی هغه سړی چه الله او رسول غواړی او الله او رسول هم هغه خوښوی»

ټول صحابه د دغه شرف امیدوار وو خو الله تعالی دغه شرف د علی رضی الله عنه لپاره مقدر کړی ؤ. رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارك علم علی رضی الله عنه ته و سپاره چه د یوی حملی په نتیجه کی خیبر د اسلام غازیاتو په لاس فتح شو. د رسول الله سره دمینی او پاك عشق حال ئی داؤ چه د حدیبی د صلحی په معاهده کی کفارو د «رسول الله» په لفظ اعتراض وکړ، د پیغمبر علیه السلام د هدایت سره سره حضرت علی رضی الله عنه وویل زما گوتی د اجراأت نشی کولی چه د «رسول الله» په کلمه دی کرښه را کاږی.

کله چه علی رضی الله عنه په یمن کی د اسلام د تبلیغ لپاره و ټاکل شونو عرض ئی وکړ، یا رسول الله! په هغه قوم کی چه زه ورته د تبلیغ لپاره استول کیږم، زما نه زیات مجرب او د پاخه عمر خاوندان شته، د هغوی د معاملاتو فیصله به زما له وسه پوره نشی. په دی خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم د علی رضی الله عنه په سینه خپل مبارك لاس کیښود او دعائی وکړه:

ای الله: د ده ژبه په حق و چلوه او زړه ئی د هدایت په نور روښانه کړه.

وروسته ئی ورله په سرعمامه و تړله او د اسدالله لقب ئی ورکړ او وئی فرمایل: څوك چه د علی دوست دی هغه زما هم دوست دی. بیائی دعا وکړه: ای الله څوك چه د علی سره مینه کوی ته هم له هغه سره محبت وکړه.

علی رضی الله عنه ته له کوچنی والی نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د معیت او ملگرتیا سعادت ورپه برخه ؤ. پخپله پیغمبر اسلام ورته د قرآن او حکمت تعلیم ورکاوه او قرآن کریم چه د علومو او معارف سر چینه ده، حضرت علی تری زیاته برخه په خپل زړه کی ځای کړی وه. علی رضی الله عنه د صحابه ؤ په هغه ډله کی شمیرل کیږی چه د پیغمبر اسلام په ژوندانه کی ئی قرآن حفظ کړی او بیا د یو یو آیت د معنی او شان نزول سره ځان واقف کړی ؤ.

هغه د عمر دیرش کاله په نبوی خدمت کی تیر کړل، د دغی اوږدی مودی د ملگرتیا اثر د اؤ چه هغه داسلام په احکامو، فرایضو او نبوی ارشاداتو کی له ټولو نه زیات عالم او په فقهه او اجتهاد کی دلوی لاس او فوق العاده بصیرت څښن ؤ. په اخلاقو او تقوی کی خپل مثال په خپله ؤ. د اسلام راوړلونه مخکی ئی نه خو کوم بت ته سجده کړی او نه ئی د کفر او شرك کوم

لفظ په ژبه راغلی دی او نه ئی د شرابو گوټ له مری تیر شوی دی.

ابوبکر صدیق او عمر رضی الله عنه به د خپل خپل خلافت په عصر کی له علی رضی الله عنه څخه د اسلامی سلطنت په چارو کی مشوره اخسته، فیصله ئی صائب او رأیه ئی مخلصانه او خیر خواهانه وه. د همدغه اخلاص او د صحابه کرامو ترمنځ د خیر خواهی د احساس نتیجه وه چه یو طرفته د اسلامی حکومت بنیاد ورځ ورځ استحکام او قوت وموند او بل طرفته د مفسدینو او داسلام د معاندینو ناوړه توطیی او سازشونه رسوا او یو په بل پسی ناکام شول.

حضرت علی رضی الله عنه نه یوازی اشج الناس ؤ بلکه په فیصله صادرولو او تصمیم نیولو کی یو لوی مصمم قاضی هم ؤ. په فصاحت او بلاغت کی ئی ساری نه درلود او تقریر او خطابت ئی ښه پیشه وه. هغه د علم نحو بنیاد کیښود او په شعراو ادب کی ئی لوی لاس پیدا کړی ؤ. اصحابو کرامو د حضرت علی رضی الله عنه په باب داحدیث هم اوریدلی ؤ چه:

«زه دعلم ښاریم او علی د دغه ښار دروازه ده»

د عثمان رضی الله عنه د خلافت په وخت کی چه د فتنی او فساد کوم اوربل شو، حضرت علی رضی الله عنه د دغه اور دوژلو لپاره مناسبی مشوری ورکړی او کله چه باغیانو د عثمان رضی الله عنه کور محاصره کړ، نو ده خپل ځامن د خلیفه د دفاع او ملاتړ لپاره واستول.

د خلیفه د شهادت نه ورروسته د خلافت مسند دړی و رځی خالی پروت و، خلکو چه به ورته مرځو د دغه منصب د قبلولو لپاره اصرار کاوه. هغو مره به د ده انکار زیاتیده. بالاخره د مهاجرینو او انصارو د پرله پسی اصرار په وجه د خلافت د چارو دسرته رسولو لپاره ئی موافقه وکړه، خو د خلافت پنځه کلنه دوره ئی د جگړو او فساد نذرانه شوه. لا د جمل او صفین جگړی چه زیات شمیر مسلمانان پکی هلاك شول پای ته نه وی رسیدلی چه د خو ارجو فتنه راپورته شوه. خو د کشمکش او اضطراب نه په دغو ډکو مرحلو کی بیا هم حضرت علی رضی الله عنه د عدل او انصاف لمن ټینگه ونیوه او هر چاته ئی د الله د خوف او د خلکو سره د نیکی نصیحت کاوه.

په دغسی ناوړو شرایطو کی چه یو طرفته د اسلامی حکومت د کمزورتیا له باره هلی ځلی روانی وی، هغه د دین د ترقی او د اسلامی حکومت د پرمختگ او پیا وړتیا لپاره له هیڅ ډول زیارنه ړډه ونه کړه.

په څلویښتم هجری کال د روژی په میاشت کی چه څه وخت د اسلام څلورم خلیفه د کوفی

پاتی په (٤٨) مخ کښی

د جهاد د ډګرونو خبرونه

جلال آباد

د ننګرهار له ولایت څخه رارسیدلی خبرونه وائی چه د کابل د ملحد رژیم هوائی قوی د روان کال د جوزا د میاشتی په (۱۳ مه) نیټه د جلال آباد هوائی میدان بمباری کړ .

خبر زیاتوی چه د مزدور رژیم هوائی قوی د دغی وحشیانه حملی په اثر د دښمن د عساکرو څخه (٦٠) تنه هلاك او یو شمیر نور ئی ټپیان شول .

منبع وائی چه د دغه لیونی حملی په آثر د دښمن یو عراده ټانګ او یو عراده ثقیله وسله تباه شوی او د هوائی ډګر و دانیو ته زیات زیان أوښتی دی .

قندهار

د قندهار له ولایت څخه رارسیدلی خبرونه وائی چه دهغه ولایت اتلو مجاهدینو د روان کال د جوزا د میاشتی په (۱۷) نیټه د قندهار د ولایت په هوائی ډګر باندی خپل بریالی عملیات ترسره کړل چه په نتیجه کی ئی د زبون دښمن شپږ هلی کوپتر الوتکی د هوائی ډګر په داخل کښی وسو ځیدلی .

منبع زیاتوی چه ترڅو ساعتو پوری د هوائی ډګر څخه تور دودونه پورته کیدل چه له څو کیلو متره فاصلی څخه لیدل کیدل . همدارنګه ددی حملی په اثر د ملحد رژیم له عسکرو څخه (۸) تنه هلاك او (۹) تنه نور ئی کلك ټپیان او یوه لوژستیکی ډیپو و سو ځیده .

همدارنګه له دغه ولایت څخه په یو بل خبر کښی ویل شوی چه ددغه ولایت اتلو او مؤمنو مجاهدینو په منزل باغ کښی د دښمن یوه پوسته فتح کړی او (۳۷) تنه ملیشه ئی له یو عراده ټانګ سره له منځه وړی دی .

دیو بل خبرله مخی د قندهار د ولایت مؤمنو مجاهدینو د جوزا د میاشتی په (۱۹) نیټه په بالاکوټ کښی د کمونیست . رژیم په یوی عسکری چونی ظفرمندانه عملیات ترسره کړل چه په نتیجه کښی ئی د دښمن (٥) عرادی ټانکونه او (۳) عرادی جیپ موټرونه تباه شول . خبر زیاتوی چه په دغه عملیاتو کښی د دښمن له قواو څخه (۳۰) تنه هلاك او (۳۰) تنه نور ئی مجاهدینو ژوندی ونیول . له همدغه ولایت څخه په یو بل خبر کښی ویل شوی دی چه ددی ولایت

قهرمانو مجاهدینو د لشکرگاه په سړك باندې د دښمن د پوځی مهماتو په یوی ذخیری حمله وکړه چه په نتیجه کښی ئی د دښمن یو عراده جیپ موټر وسوځید اود دښمن له ملیشه ؤ څخه (۷) تنه هلاك او یو نفر له خپلی وسلی سره اتلو مجاهدینو ته تسلیم شو او د مهماتو ذخیره یې ډیره زیانمنه شوه .

هلمند

د هلمند له ولایت څخه رارسیدلی خبرونه وائی چه دهغه ولایت اتلو او مؤمنو مجاهدینو د روان کال د جوزا د میاشتی په پنځمه نیټه د کابل د مزدور رژیم نظامی مرکزونه او پوځی وسله کوټونه د خپلو درندو وسلو او راکټونو په واسطه تر اور لاندی ونیول چه دهغه په نتیجه کښی د لشکر گاه ښار یو عسکری قرارگاه ډیر زیان وموند او د دښمن له ملیشه ؤ څخه (۲۰) تنه ملیشه یان هلاك شول .

جوزجان

خبرهای واصله از ولایت جوزجان حاکی است که مجاهدین دلیر و ایثارگر آن ولایت بالای مراکز عساکر رژیم ملحد در آن ولایت عملیات وسیع وهمه جانبه اجرا نمودند که در نتیجه آن (۳۰۰) سه صد نفر عساکر رژیم مزدور به اسارت مجاهدین در آمدند . درگذارش آمده که طی این عملیات مؤفقانهٔ مجاهدین توانستند که (۴۰۰) میل کلاشینکوف ، (۴) عراده توپ و (۴) میل ماشیندار ثقیل را به غنیمت بگیرند .

گذارش دیگری از همین ولایت می افراید که مجاهدین بالای پوسته های دشمن زبون در منطقهٔ کوهی ادرك عملیات نمودند که باعث خسارات زیاد مالی و جانی دشمن گردیده و یك پوسته رژیم کمونیست بدست مجاهدین فتح گردید .

درولایت بغلان (۱۱) میل سلاح مختلف النوع به غنیمت مجاهدین در آمدند

خبرهای واصله از ولایت بغلان حاکی است که مجاهدین مؤمن و سربکف راه اسلام به تاریخ نو جوزای سال جاری در مرکز آن ولایت بالای مراکز و قرارگاه های عساکر رژیم ملحد عملیات مؤفقانه انجام دادند که در نتیجه آن (۴) نفر از افراد ملیشه های دشمن هلاك و (۸) میل سلاح مختلف النوع به غنیمت مجاهدین در آمدند .

منبع می آفزاید که به تاریخ (۱۲) برج جوزا مجاهدین بالای مواضع دشمن در شهر بغلان عملیات نمودند که یك نفر قوماندان دشمن با (۳) نفر ازافراد ملیشه به اسارت مجاهدین درآمدند .

په لویدیځ الـمان کښی د ترکـانو مظاهرې

په بلغاریا کی ترکان یو مسلمان اقلیت دی چه د بلغارئی د حکومتی مقاماتو له خوا ورسره بده وضع کیږی تقریباً یو دوه کاله وړاندی دنړی په مطبوعاتو کښی یو خبر خپور شوی وو چه د بلغارئی د مسلمانانو چه هکله ئی ځنی حقایق څرگند کړی ؤ .په دغه خبر کی ویل شوی ؤ چه د بلغاریی حکومت دهغه هیواد په مسلمانانو باندی زور اچولی چه له خپلو نومونو څخه اسلامی بڼی لیری کړی .اوس هم همهغه فشار جاری دی او ځواړی چه د مسلمانانو هویت ختم کړی او د خپل هیواد د نورو میلیتونو او قومونو سره ئی گډوډ ،بی نومه او بی نښانه کړی .دامریکی متحده آیالاتو او داروپا دگډ بازار غړی د بلغارئی د حکومت د دغه ناروا او انسانی ضد عمل دغندنی په مناسبت د غربی آلمان د مونشن په ښار کی د بلغارئی د سفارت مخی ته یوه شانداره مظاهره وکړه او دهغه هیواد د حکومت د دغه عمل دغندنی په ترڅ کی ئی د تورو گلانو یوه گیډۍ د سفارت خانی په مخ کښی کیښود له چه دغه مظاهره د غربی آلمان او ترکی ژور نالستانو د یوی لوئی ډلی له خوا لیدل کیدله .

د بلغاریا په مسلمانانو باندی د کمونیستانو ظلمونه اوس هم روان دی

بین المللی آژانسونو د البانیا په شمال ختیځه سیمه کښی د زیات تشدد خبرونه خپاره کړی دی پدی لړ کښی وائی چه د بلغاریا په ترکی نژاده خلکو باندی د بلغاریا د کمونیست گوند زور زیاتی اوس هم جاری دی او د دغو مسلمانانو په هغو نویو احتجاجونو کښی چه ترکی الا صله بلغاریائیانو څه موده وړاندی کړی وو ډیر خلك وژل شوی دی .د وژل شویو کسانو شمیر په دقیق ډول تعین نه دی مگر د « شومنو » د ښار په احتجاج کښی څو زرو کسانو گډون کړی وو .د بلغاریا د خبری اژانس د رپوټ له مخی په یوه بله مظاهره کښی چه د می د میاشتی په شلمه نیټه د شومنو د ښار په شمال لویدیځه سیمه کښی وشوه (۳) تنه و وژل شول ،لیکن د بلغاریا د مجاجرینو منابع وائی چه تلفات ډیر اوښتی دی .

د یو بل خبر له مخی د جون د میاشتی په دوهمه نیټه (۲۰۲)تنه ترکان نور هم له بلغاریا څخه وشړل شول

PROPERTY OF ACKU S 524

په یوګو سلاویا کی مسلمانانو بیا
په مظاهرو لاس پوری کړ

د نړۍ والو مطبوعاتو خبر دی چه په یوګوسلاویا کښی د وروستیونا آرامیو په ترڅ کښی لږ ترلږه یوسړی مړ شوی او څو نور ټپیان شوی دی. مقامات وائی چه دغه مړګ ژوبله هغه وخت و شوه چه په دغه منطقو کښی د مظاهره چیانو او پولیسو ترمنځ پزی و شوی له دی څخه وړاندی پولیسو هڅه وکړه چه په اوښکی بهوونکی ګاز مظاهره چیان خواره واره کړی. د مارچ په میاشت کښی دا د البانی نژاده مسلمانانو د مظاهره چیانو له قومی اعتصابونو نه وروسته دا دهغوی لومړی مؤثری مظاهری دی چه پیل شوی دی. د مارچ د میاشتی په مظاهرو کښی لږ ترلږه (۲۴) کسان وژل شوی وو، له هغه نه مخکښی په اساسی قانون کښی تعدیلات منظور شوی چه دهغو په اساس د «صربیانو» په خودمختار ولایت «کسوو» کښی داخلی صلاحیت او قدرت محدود شو. د بلګراد رادیو دغه وروستی مظاهری د «کسوو» ولایت نه داروپائی پارلمان دیو هیئت په سفر پوری چه دغه علاقی د مشکلاتو سره د بلدیدو لپاره تللی وو، تړلی وه.

رادیو وائی چه مظاهره چیانو له ځان سره د یوګوسلاویا او البانیا بیرغونه او یوه بله جنډه وړله چه له یوګوسلاویا څخه یو مکمل جمهوریت ته ئی د «کسوو» ارتقاء غوښتله.

د (٤٤) مخ پاتی

حضرت علی کرم الله وجهه

جومات ته تشریف را وړی ؤ، عبدالرحمن ابن ملجم د پخوانی طرح شوی پلان په اساس په داسی حال کی وربانده په زهرو د ککړی توری ګوزار وکړ چه حضرت علی رضی الله عنه د الله په دربار کی په سجده سرایښی او په ژبه ئی د سبحان ربی الاعلی کلمه جاری وه. د رمضان المبارك د میاشتی په شلم د جمعی په شپه د دری شپیته کالو په عمرئی د شهادت عالی مقام په برخه شو.

(انالله وأنا الیه راجعون)

بسم الله الرحمن الرحيم

وعن عبدالله بن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم، المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده والمهاجر، من هجر مانهى الله عنه (هذا لفظ البخاری).

ومسلم قال انّ رجلا سأل النبی صلی الله علیه وسلم، ایّ المسلمین خیر؟ قال من سلم المسلمون من لسانه ویده.

(متفق علیه)

ترجمه:

عبدالله (رض) بن عمرو نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: (پوره) مسلمان هغه دی چه دهغه دژبی او لاسونو نه مسلمان محفوظ او په امان وی او مهاجر هغه دی چه هغه ټول څیزونه یي پریښی وی دکومو نه چه الله جلّ جلاله منع فرمایلی ده. (دا الفاظ د بخاری دی).

او په مسلم کښ دا الفاظ دی: چه یو سړی له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړو چه مسلمانانو کښ د ټولو نه ښه سړی کوم یو دی؟ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه سړی چه د هغه دژبی او لاسونو نه مسلمانان په امان وی.

(بخاری او مسلم)

بسم الله الرحمن الرحيم

لا اله الا الله محمد رسول الله

الله اكبر

ان هذا القرآن يهدي للتي هي اقوم

ان الارض لله يورثها من يشاء من عباده

الا له الخلق والامر

الا له الخلق والامر

۱۳۸۴ هـ ق

جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

افغانستان